# کنګل ژمي
# کنګل لاسونه

www.libtool.com.cn



عبدالخالق رشید

۱۳۷۳ -عقرب

www.libtool.com.cn


- د کتاب نوم : کنگل ژمي، کنگل لاسونه
- د لیکوال نوم : ع رشید
- دخپرونکی موسسی نوم : د خوشال فرهنگی ټولنه
- د کمپیوتر سمبالونکی : اجمل سنگریار
- د پښتی انځورگر : عبدالله شاد گام نوابي
- خطاط : خواجه قمرالدین چشتي
- د خپرونو نمره : ۱۳
- کال : ۱۳۷۳

www.libtool.com.cn

بسم الله الرحمن الرحيم

www.libtool.com.cn

ډالـــۍ:

د هغه ښـــار، هغـــــــو ارواوو تـــه!

چـــې وران شول، مړه شول او مســـا پر!

« رشید »

PROPERTY OF ACKU 5516

# سرليکونه

| مضمون | مخ |
|---|---|
www.libtool.com.cn


| | |
|---|---|
| د پسرلي دويمه مياشت | ۱-۷ |
| ليونتون | ۸-۱٤ |
| سرې سترګې | ۱۵-۱۸ |
| غرغره | ۱۹-۲۲ |
| د وينو ورم | ۲۳-۲۷ |
| د ګور چينجي | ۲۸-۳٤ |
| پرده تيرې، پر ما تيرې | ۳۵-۳۸ |
| د وې ورځې، نيمه شپه! | ۳۹-٤۲ |
| وينه؟! | ٤۳-٤۵ |
| کابلی خندا | ٤٦-۵۰ |
| ګلمجمه ببو | ۵۱-۵۲ |
| نيلوفر | ۵۳-۵۸ |
| بسمل | ۵۹-٦٤ |

# سریزه

داکیسی:

www.libtool.com.cn

– د دې له پاره نه خپروم چې شهرت را په برخه کړي او نه د دې په خاطر چې څوک خپل وخت هسې پرې تیر کړی.

– د دې له پاره يې نه خپروم چې پرې وویاړم او د چا خبره شمله مې پرې جګه کړم.

– د دې له پاره يې نه خپروم چې ستاسی آرامې شیبې لکه زموږ پرې نا آرامه شي.

– او د دې له پاره يې نه خپروم چې وښیم زه ډیر بهادریم او تورزن!

بلکې د دې لپاره يې خپروم:

– چې د هغه ښار د هغو اوښکو او وینو پور ادا کړم چې زه تري راوتم او دوی لا په اوښکو او وینو کې تپیدل.

– چې د هغه ماشوم دردونه هغوی واوري چې توري يې په لاس کې دی او غوږونه يې کاڼه!

– چې د هغې مور او هغې میرمنې په حال خبرشي چې بی عزته شوه او بې پته او «دوی» ورته کتل!

– چې د هغه چا آه وفریاد ؤاوري چې په مینه لویږي، په مینه ځوانیږی او په قهر وژل کیږي.

– چې سبا نې زموږ ږندو په لارو رانه شي، په دغو لارو چې موږ په کې وژړل او موږ په کې نیمه خوا شوو!

هو، په همدغه مینه يې ولولی!

په مینه!

# د پسرلي دويمه مياشت!

www.libtool.com.cn

کلونه کيدل چې زموږ د کلي د ديرې داو چتنو ونو په ښاخونو کې د مرغانو ځالې تر سترګو کيدې، کله کله خو به داسې هم ووچې په زړو ځالو برسيره به نورې ځالې هم جوړې شوې او د ناآرامو مرغانو سترې شيبې به په کې ارامه تيريدې. سږ چې زما د غو ځالو ته ور پام شوی و، نو هره ورځ به مې د يوې کوترې په شنو وزرونو باندې سترګې لګيدې او په مينه مينه به يې زما د کتو تګلورۍ پر خپله خوا ور اړاوه، او چې کله به په خپله ځاله کې کيناسته او سره و به غوړيده، پر ما به يې دومره اغيزه وکړه چې سره و به غوړيدم، کله کله خو به د خوب نرۍ نرۍ ځپه هم را باندې راغله، او تر دې د مخه به ما د ارامۍ احساس وکړ زما به هره ورځ د دې را تګ ته سترګې ځلور وې او په ځاله کې د غوړيدو د غې ننداري به يې بل ډول خوند را کاوه، يوه ورځ مې د کلي له هلکانو سره په خپرو کې ټول مخ نو کارې نو کارې شو، هغوی غوښتل چې د کوترې ځاله په لينده باندې وولي او کښته يې را واچوي، لا يې تيره د ليندۍ په کاسه کې نه وه ايښې چې زما ور پام شو:

– پام ... پام چې وار ونه کړې.

– ولې ؟

– ګناه لري، خدای به درته په قارشي.

– څه، څه ... ګناه لري، د څه شي ګناه ؟

خو دا ځل يې چې نښه ورته نيوه، نو ما يې لينده له لاسه کش کړه او خبره مو چغو بغارو ته سره ورسيده، چې نا څاپه د کلي ملا صاحب زموږ پر دغه بده ورځ را برابر شو او موږ چوپه خوله شو. هغه نژدې راغی. موږ ټولو په وار وار خپله خپله ورته وويله، زما مخ په وينو سور و، را پاک يې کړ، هغه دواړه نور يې د کوترې د ځالې د ړنګولو په ګناه

وترتل او په تونده ژبه يې ورته وويل:

– ځوک چې د چاکور رنګ کړي، کور يې رنګيږي، که ځوان وي ځوانيمرګ کيږي هو، خانه خرابي لويه ګناه ده. په دغه ورځ د کوترې ځاله له رنګيدو بچ شوه، د ملا صاحب خبرې زموږ په غوږ وکې نورې هم په انګازو شوې کورته روان وم دوه، درې ځلې مې دې خبرې چې «خانه خرابي لويه ګناه ده» ذهن را بشکيل کړ، د ملا صاحب خبرې پر موږ ځکه اغيزه کوله چې ده ته موږ په درنه سترګه کتل، ده په دې نژدې څو کلو نو کې چې زموږ لارښود و ډير د خير کارونه ترسره کړي وو، له حرامو يې ډير بد کيدل او چا به چې په حرامو لاس پورې کاوه ده کرکه ترې کوله او ان دا چې د ټولو خلکو په منځ کې به يې رسوا کاوه، که رښتيا ووايم ده په کلي کې د هر چا ځای او ورتيا په ګوته کړي وو، ځکه نو زموږ ډيره سخته حياتري کيده او په زړونو کې ډير را باندې ګران و.

د شنې کوترې ځالې زما په احساس باندې دومره اغيزه کړې وه چې يوه ورځ به مې و نه ليده خدای شته چې ډير به خواشينی کيدم، څو څو ځلې مې په زړه کې راغوټه کړه چې ملا صاحب ته ووايم چې که زه نه وم بايد د هغې په ځاله يې پام وي، ځکه چې په بل چا مې باور نه و، زموږ کلی خو د خدای کلي و، هر ډول خلک پکې وو، زموږ په کلي کې داسې خلک هم وو چې دا څو کلونه ناروغه وو، حکيم جيانو به دا سپارښتنه تل ورته کوله چې:

– ستا د ناروغی د مخنيوی لپاره د کوترې غوښه ډيره ښه ده.

ځکه نو د کوترې په غوښه پسې سردرد ګرځيدل. زه په هغی ډير ډاريدم، ځکه مې د غو ناروغانو ته نه ورښوده، زموږ د کلي د ديری ونې ډير ګڼې ونې وې، کوتره د باز او باښی له نا ځاپي يرغلو نو څخه هم دلته په امن وه. يوازې زه وم چې د کور له کړکی څخه به مې د هغې د لوخو پو څو ښه ننداره کوله. د ورځې به څوځو ځلې له خپلی ځالې الوته، لوړه به تله، خو دا چې چيرې به تله په دې يې زه هم نه پوهيدم، څه موده نه وه تيره چې د هغې په ځاله کې هګۍ پيدا شوې، همدا وجه وه چې اوس به کله له اوږده سفره راستنه شوه نو نيغه به په ځاله کې نه کيناسته، لومړی به يې په يوه ښاخ باندې ځان تم کړ، د خپلو هګيو ښه ننداره به يې وکړه بيا به نو ورو ستـه لکه ملکه چې دربار ته

www.libtool.com.cn

ننوځي دا هم پر خپله ځاله کې پر خپلوهګيو باندې کيناسته: له ځالې څخه به يې د شنو ونو د پاڼو ارام زوږ ته غوږ نيولی و او د يوې، بلې خوا ننداره به يې کوله دريو خوا ووته يې په شنو پاڼو باندې سترګې لګيدې، له دريو خواوو ډاډه وه، يواځې يوه خوا چې هغه
www.libtool.com.cn
هم زموږ د کور د کړکۍ خوا وه او د ړنګيو ښاخونو په پاڼو نه پټيده، د دې لپاره ډاډ منه خوا نه وه، زياتره وختونه به يې دې خواته راکتل، شايد چې له همدغې خوابه يې د خطر احساس کاوه، ځکه چې هسې عادي تيک به هم شو دې به زموږ پر خوا را کتل، داسې چې تا به ويل له ځان سره وايي:

- کاشکې چې دا خوا مې هم په شنو پاڼو پټه وای، او سترګې مې په دغه قام «انسان» نه لګيدای، هو کاشکې!

هغې زموږ له خوا د خطر احساس کاوه، يوه ورځ هم ما دا ونه ليده چې بلې خواته به يې د خطر په وخت کې کتلې وي، سره له دې چې ما ددې په سر هر څه نادودې منلې وې، خو بيا يې هم باور نه کيده، شايد چې د خپل مرګ چاره يې په دغې خوا کې په سترګو ليده. د کلي ملا صاحب به چې هر چيرې وليدم يواځې دا به يې راته ويل:

- ښنګه ده ......

ما به هم لنډ ځواب ورکړ:

- تر اوسه خو ښه ده.

هغه کال ما په ځيګر خونې ورسره تير کړ، دوه بچوړي يې هم دومره شول چې کله منې شو، له مور سره يې يو ځای د تودو ملکو په لور لاړل، منې او د هغه ترخه بادونه يو په بل پسې تير شول، ژمی راغی، په هغه ورځ به چې واوره اوريده او ما به د شنې کوترې ځالې ته کتل، په زړه کې به را تيره شوه چې که هغه په ژمي کې دلته پاتې شوې وای، نو په څه سختيو به مړه وای، خو په دې به خوشاله شوم چې «ځای و او جولا نه و» ځاله وه او دا په کې نه وه. ما د کوترې د وروستيو ورځو ډير ښه ننداره وکړه، ما هغه ليده چې ښنګه به يې د منې د شپو په بادونو کې خپل پاسته پاسته وزرونه په خپلو بچورو غوړول، ما هغه ليده چې په خپله ځاله کې به يې څومره د خوشالۍ او آرامۍ احساس کاوه هغې ته يې هغه دوه بچوړي اوس هر څه وو، هو، هر څه: ژوند، خوښې او

خوشالي!

ژمی ما په ډیره ارامی سره تیر کړ، کلیوالو به ټولو همدا راته ویل چې کاشکې په اوړي کې هم داسې ارام وی. زما د آرامی یو دلیل دا و چې په ژمي کې د شنې کوترې له پیره داری څخه بی غمه وم، په ټول ژمي کې به مې نه مخ نو کاری و او نه به له هلکانو سره لاس او ګریوان وم ځکه کلیوال ټول را څخه خوشاله وو. په هغه کال د نورو کالونو په اندول ژمی هم ډیر سوړ نه و، د کلیوالو خبره، سمه لویه څله په وتو وه چې نوې مرغۍ یوه یوه دلته هلته لیدل کیدی، ټولو همدا ویل چې سږ ژمی تود و ځکه نو مرغان دوخته را پورته شول. زما هم دوې سترګې څلور وې، هر سهار او ماښام به مې د کوترې ځالې ته کتل خوتر اوسه د هغې پته نه وه، هغه تر اوسه زموږ په لټو باندې نه ښکاریده او پر دغه خوا یې ګذر نه و، لس پنځلس ورځې ما د هغې ښه لاره وڅارله، ما فکر کاوه چې هغه به سږ په ځانګړو مراسمو خپلې ځالې ته راځي، ځکه سږ خو یې بچوري هم زلمیان شوي وو، کله به چې د هغې را تګ را په یاد شو نو په ذهن کې به مې دا را انځور شوه چې یو بچې به یې یوې خواته وي او بل به بلې خواته دا به یې په منځ کې په هسکه غاړه را الوتې وي او تر هر څه د مخه به له لرې لرې خپلې ځالی ته را ګوري. هو، خپلې ځالې ته هغه چې زموږ د کلي د ونو په منځ کې اوس له لرې لرې هم ښکاریده.

خدای شته چې تر پسرلي پورې زه کوترې ته سترګې په لاره پاتې شوم په نن او سبا راتګ باندې یې زما دوه سترګې را څلور کړې. کله کله خو به په ذهن کې را تیره شوه چې: «رانه غله فکر کوم چا به ویشتلې وي» او یا دا چې په بل کوم غم اوښتې ده.

زموږ د کلي د ونو غوټۍ په غوړیدو، او د پانو سیوری کرار کرار زموږ د کور د کړکۍ پر خوا ړنګي ړنګي را لویدل، هغه مساپر مرغان چې د ژمی له درد او دوکه تودو ملکو ته مهاجر شوي وو، هغوی بیرته را وختل، زموږ د کلي په شنو ونو کې بیا د مستو مرغانو د آوازونو مستانه شرنګی جوړو. هو، ټول راوختل، خو یواځې شنه کوتره تر اوسه هم نه ښکاریده. یوه ورځ د کلی ملا صاحب په مخه راغی بی سواله جوابه یې راته وویل:

– ما خوب ولید په دې ورځو کې رارسیږي.

زه هم خوشاله شوم. ربښتیا یوه دوې ورځې وروسته چې کله سهار وختي له خوبه را پاڅیدم، دوه ښنی کوترې یوې ځالې ته یوه خوا او بله خوا ناستې دي. سترګې مې سره ومښلې، په ځیر ځیر مې ورته وکتل، ښنه کوتره مې وپیژندله او دا بله نا آشنا راته ښکاره شوه، دښنې کوترې ښکې سپیرې راته ښکاره شوې، خو فکر مې زر ځواب راکړ چې نوره نو زړه شوه دا بله کوتره چې ورسره ده هغه به یې بچوری وي، او هغه دویم بچوری یې ورسره نه و. هو، هغه نه و، دا چې ښنه کوتره سر خواره ښکاریده، شاید هغه بچوري به یې چاور وژلی و. غمجنه به وه، زړه به یې یاري نه ورسره کوله چې تر پسرلي هم د مخه زموږ د کلا ښنو پانو ته ځان راورسوي. سږ د تیر کال مستی نه وه ور پاتی، یو ځل به که له ځالي چیرې والوته، نوره نوګرده ورځ داوه او د ځالي خوبونه.

د پسرلي دویمه میاشت هسکه راغلې وه، چې زموږ پر کلي باندې د نویو مساپرو زیري وشول، زموږ ډیر کلیوال دا څو کاله په پردیو ملکو ورک وو، دا زیري هر کال په همدغو شپو ورځو کې کیدل، خو سږ د نورو کالونو په انډول ډیر تاوده وو زموږ په دغو کلیوالو کې زموږ د ملا صاحب زوی هم چې ډیر کالونه کلی ته نه و راغلی، کلی ته راغی، لویه ډله ورسره وه هو، لویه! هر ډول خلک په کې وو: ملایان، چریان طالبان، چرسیان، غله، سرې وژونکی او نور ... زموږ د ملا صاحب زوی یې مشرو، په څو ورځو کې خبره روښانه شوه، زموږ د کلي ارامه فضا دومره نارامه شوې وه چې خلک په دغو څوروځو کې تر پزې شول، نه چاته چرګ وریاتی شو، نه چرګوری، نه ښځی دباندې وتلای شوې او نه هلکان، ځکه یو ځل د ملا صاحب زوی د کوم بزګر ښځه د لویې کلا له دروازې د باندې لیدلی وه، هغه ورته ویلي وو چې ښځې د باندې وتلو حق نه لري، بزګر لکه چې ورته ویلي وو چې دا خوښار نه دی دا کلی دی، دا څه چې ته وایې دا خبرې دلته ورتیا نه لري له موږ غریبانو سره چې په کرکیلې کې ښځی کار ونه کړي زموږ ژوند خراب او کډه مو د چرګې په شا بار ده، خو هغه سپوری ستوغی ورته ویلي وې.

د میاشتې تر وروستیو ورځو پورې دا ټولې نادو دې یوه په بله پسې د ملا صاحب تر غوږ تیرې شوې، خو دې غوبل ته د هغه تروس هم تیره وه، هغه هم په دعه کار د زړه

وینی خوړي ، یوځل یې یوه سپین ږیری ته دا خبره کړې وه چې له خدایه څخه مې مرګ غـواړم هغـه څـه چې پر مـا تیـریږي او پر هغـوی چې زه پوهیـږم ، په هغـو تاسی هم نه پوهیږئ .

www.libtool.com.cn

د مـلا د زوی له را تګ سره سم ما بیـا دې ته وخت پیـدا نه کړ چې د شنې کـوترې د الوتنو د ناز او بازار ننداره دې وکړم. څو ورځ وروسته د ملا صاحب په زوی پسی د هغه د ښـمنان هم سیـمې ته را ورسـیدل . زموږ په کلی به هره شپه د هغو له خوا یرغلونه کیـدل ، زموږ ژوند په سره تناره شو ، نو ځکه هر څه را څخه پاتې شول: د کلی د شنو پاڼو د ناز نڅا ، د شنې کوترې د ښکلو سترګو کاته ، په کور او کـهول کې د خوړې خندا ځپې!

د پسرلي د دریمې میاشتی د وروستی جمعی مبارکه ورځ وه چې موږ د کلی د ملا په جنازه پسې روان وو ، هو ، د هغـه په جنازه پسې چې نه یې په ناروغی خبـر شـو او نه یې په نورو دردونـو او غـمـونـو ، هر چا بـه ډول ډول خـبـرې کـولې ، چا بـه ویـل زړه یې و چاوده ، چا به ویل زوی ...

هو ، موږ په هغه ورځ په همدغه جنازه پسې روان وو چې خلکو یوه او بل ته سره غږ کړ:

- پام چې په دې کوتره مو پښی کی نه ږدی ، پام ... پام ...

په همدغـه دغه کې زه هم هغه ځای ته ورسیدم چې هلته شنې کـوترې په سرو وینو کې مـاتې وزرې څرپولې ، مـا چې هغه ولیده تر سترګو مې توره تیـاره شوه ، د جنازې له لیکو راووتم او هغه مې له ځمکې را پورته کړه ، په ځیـر ځیـر مې ورته وکـتل ، د هغې وزرې مـاتې وې ، مـا ته د هغـې کاته ډیر ګران وو خو اوس یې په سـترګو مـراوې مړاوې پردې راتلی ، داسی چې ګـواکې ما د کـتلو پر ځـای ترټې او کرکه راڅخه کوي ، مـا ته یې په هغو پخوانیـو سترګـو ونه کـتل ، څو شیبې وروستـه یې زما په لاسـونو کې دمـه وختـه اوساړه ځانګـونه زمـا په لاس کـې وه ، چې « بابو » رانښکاره شـو ، بابو د مـلا صـاحب د زوی د وسله والو کسانو مشرو . زما په لاس کې یې کوتره ولیده را منډه یې کړه :

دا همـاغه کوتره ده چې مـا مـا ښام ښکار کړه او رانه ورکـه شـوه ، دا بـه مـاته راکړې

چلم مې دا ځوروځی له سینی څخه دود کش جوړ کړی چې پرې صافه یې کړم.

ما ورته وویل:

- دا خو اوس مرداره شوه، دا خو ستا له ښی هم ووته!

- ما چې بیګاه په ګولۍ وویشته «آلله اکبر» می پرې ووې.

- مګر حلاله نه شوه، څنګه یې خورې؟

- زما نوم بابو دی «بابو» بابو ته حلال او مردار یوشی دی، ته یې ما ته راکړه.

هغه یې را څخه واخیسته، په وچ میدان حق حیران ودریدم، شاوخواته مې وکتل هلته وراندې د جنازې بدرګه ښکاریده او دلته «بابو» په خوښی سره د کوترې په پوستولو بوخت شو، زه لا ولاړ وم، نه پوهیدم چې د ملا صاحب په جنازه پسې ورشم او که په شنې کوترې باندې د «بابو» ننداره وکړم!؟

www.libtool.com.cn

www.libtool.com.cn

# ليونتون

دا ډير کلونه وشول چې د يو نامه له اوريده سره سم په فکر کې شم، کله چې دا نوم واورم که روان وم ودريږم، که ناست يم پورته شم او ان کله چې په خوب کې ورسره مخامخ شم، په ځای کې را اوچت شم، راويښ شم او همدا سې ويښ پاتې شم، په ساعتو ساعتو په دې باب فکر کوم او ډول ډول دلايل د ځان د قناعت په خاطر له يوې او بلې خوا را برابر وم، تر هغو چې يا ځای بدل کړم او يا له چا سره په نورو شيانو بوخت شم. دا ډير جالب نوم دی هو، ډير جالب او د اوريدو وړ، څه شی؟ ليونتون يا دارالمجانين!

ما لومړی ځل دا ځای په هغو شپو ورځو کې وليد چې زه د پوهنتون محصل وم، موږ به چې روغتون ته د کوم ملګري پوښتنې ته ورغلو نو يو ځل به مو دغې خواته هم لاره ورغلطه کړه، او هلته به مو يو شمير انسانان چې خلکو ليونيان بلل ليدل. هغوی ډير جالب خلک وو، په کړکيو کې به ناست وو، سړی ته به يې خندل، زاری به يې کولې، يوه يوه خوبه د سګرټو او ... غوښتنه هم کوله، مګر ځينو به بيا يواځې سړي ته کتل، هو کتل به يې، داسې چې نه يواځې سړی ته ګوري بلکې په کتو کتو کې يا څه وايي او يا غواړي څه ووايي، يوه ورځ چې مو د دوی ننداره وکړه نو يوه يې غږ راوکړ:

- راځئ دلته، زموږ ميلمانه شئ، وريجې شته، غوښې شته، هګۍ شته او...

زموږ په ملګرو کې يوه د ده خبره او ساعت کول په ټول خوند سره واوريدل هغه ورته وويل!

- نور څه شی شته؟

- ... هم شته

موږ وخندل، ده هم وخندل، موږ روان شو ده بيا غږ را پسی وکړ:

– مه ځئ مه ځئ ټوکه مې وکړه هغه نشته په والله که یې نوم هم وي راشئ ویې گورئ.

موږ نور هم وخندل، ده چې هر څومره چغې وکړې او قسمونه یې کول چې « نشته نشته » موږ ترې نه لاړو او تر شاه مو ور ونه کتل.

www.libtool.com.cn

دا زموږ عادت و چې دوی ته به ورتلو، د دوی په باب به مو ډیری خبری، هو ډیری جالبی خبرې اوریدې، په تیره بیا چې د پوهنځی دویم او دریم ټولگی ته ورسیدو او هلته به مو روانی مضمونو نه لوستل، دوی ته مو نور هم ور پام شو او په دې پوه شو چې له دغو خلکو سره یواځې ټوکې او خندا وی نه وي، بلکی دلته د ژوند د ژورتیا او تورتم اړخونه هم سړی لیدای او کتای شي، یوځل چې موږ هلته لاړو یوه سپین ږیري ملازم چې د دوی د ژوند رنگارنگئ ور معلومی وې موږ ته یوه کیسه هم وکړه که څه هم زموږ باور پری رانه غی مگر کیسه یې د همدغو خلکو د دنیا کیسه وه. هو کیسه: یو وخت د لته پاچا راغی، ډیر لوی لوی خلک ورسره وو، چې را ننوت، هیچا هم دهغه پروا ونه کړه، یوه ته یې وویل:

– څنگه ارام یاست؟

هغه یواځی ورته وکتل او څه یې ورته ونه ویل.

بیا یې په لاس دیکه ورکړه:

– ما پیژنئ که نه، زه پاچایم پاچا!

هغه دا ځل لږ ورته ځیر شو، څو شیبې یې کښته پورته ورته وکتل، لږ موسکی غوندې شو:

– دا ته پاچایې؟

– هو، زه، زه!

په کړیس کړیس یې وخندل او ورته ویې کتل:

– خیر دی، دا ستا گناه نه ده، دلته چې هر څوک اول راشي، همدا وایي چې زه پاچایم پاچا!

هلته ډیرې خبرې کیدې، هلته زموږ تر دنیا بیله یوه بله دنیاگۍ وه، داسې دنیاگۍ

چې موږ چا نه ووپرې خبر کړی، دوی هم ژوندی بنیادمان وو او موږ هم، ظاهراً په یوه دنیا کې، په یوه پاچاهی کې اوسیدو، په داسې حال کې چې نه د یوې پاچاهی اوسیدونکی وو او نه د یوې نړۍ، موږ هغوی ته آشنا وو، هغوی موږ ډیر ښه پیژندلو، هغوی زموږ په نیتونو، زموږ په ځانځانیو، زموږ په کړنو او زموږ په ظلمونو پوره پوره خبر وو مګر موږ هغوی نه پیژندل، د هغوی په دنیاګۍ نه وو خبر ځکه هغوی نا آشنا راته ښکاریدل، تماشې ته به یې ورتلو او له خندا به ورته شنه وو، زه اوس په دې پوه شوی یم چې موږ هغوی نه پیژندل، او دریغه چې تر ډیره وخته به نور هم دا ډول خلک ونه پیژنو!

www.libtool.com.cn

سږنی کال بل ډول کال و، د لیونتون د پاچاهی په جوړښت، کړو وړو او حالاتو کې یې هم بدلون راوستی و، دا چې د باندې په ښار کې د وینو کاروانونه روان وو همداسې دلته هم ډاریا ډارته ورته یوې بلې بلا د دغو خلکو پر دنیاګۍ باندې منګولې لګولې وې. داسې کال په دوی نه و راغلی، کله چې به دلیونتون په شاو خوا کې درنې ګولۍ ولګیدې، دوی به چا ژړل، چابه لاسونه سره مښل، څوک به د کوټې په کنج کې سره کړۍ شوي وو او سرونه به یې په یوه او بل سره ایښي وو، د یوه له خولې هم خبره نه راوته، یواځې چې یوه او بل ته به یې سترګې سره مخامخ شوې، تر ډیرو به یې یوه او بل ته کتل، هو تر ډیرو ډیرو، ...!یوه ورځ چې دوی ته نژدې ډیر ډزونه وشول او یو ماشوم یې د دوی د کړکۍ په مخ کې په وینو لړلی ټوټې ټوټې تیر کړ، هغه دوی ټولو ولید، سره له دې چې هر څوک به د دوی د کړکۍ په مخ کې تیریدل دوی پرې خندل مګر په دغه ورځ دغې پیښې ته ټول حیران پاتې وو، یوه له ډیره درده او خواشنۍ خپل سر د کړکۍ د پنجرې په میله باندې وواهه، څو شېبې د کوما په حال کې و، خبرې یې تر خولې هغه وخت راووتې چې د مخ پړسوب یې لږ کیناست، لومړۍ خبره چې د ده تر خوله راووته داوه چې:

– وینی، وینی، سرې وینې، ماشوم، ... ټوټې، ټوټې!

د جګړې اور په اوږدو او لنډو د لیونتون لمنې ته راورسید، لیونتون د یوه پخوانی لوی روغتون په څنډه کې و. هره ورځ به د روغتون په منځ کې یو اودوه ناروغان په

ګولیو وژل کیدل، ناروغان هم اوس چا نه راوستل ځکه چې دلته د روغتیا امیدونه په مرګونو او ښتي وو، هغه ناروغان چې پخوا دلته بستر شوي وو، هغوی یې هم خپلو خپلوانو وایستل، په هغه لوی روغتون کې اوس له دار او وحشته پرته نور هیڅ هم نه وو، یوه شپه چې د جګړنو... قوماندان په روغتون کې خالي بسترې او کټونه ولیدل، په هم هغه شپه یې موټر راوغوښتل او هغه یې ټول د غنیمت (!) په نامه له روغتونه وایستل او روغتون نور هم د ډار او حیرانتیا کوډله شو. قوماندان په هم هغه شپه لیونتون ته هم لاره ورغلطه کړه، هلته یې انسانان تر سترګو شول:

- اینجه کیه؟ «دلته څوک دي؟»

کوم یوه غبرګ وکړ:

- دیوانا یه صایب! «لیونیان دي صاحب»

د ننه ورننوت، هغوی یې ولیدل، خو هغوی پخوا دي له کړکې څخه لیدلي و، ټول په کنجونو کې یوه او بل ته نژدې ناست وو مخونه یې دیوالونو ته وو، هیڅ یې دې خواته را کتل هم نه، یواځې یو، دوه داسې کسان وو چې کله دروازه خلاصه شوه دوی هغې خوا ته وکتل او چې کله یې قوماندان او د هغه ماشنګړ ولیدل نو سرونه یې په زنګنو کې ومنډل او سترګې یې پټې کړي. اوس نو هیڅوا هم هغه ته نه کتل، یو خوار کې یې تر غوږ راونیو، راپورته یې کړ، هر څومره یې چې پوښتنې ترې وکړې خبره یې هم ترې راونه ایستله، په ټوله کوټه کې داسې آرامي وه چې د میږي د تګ غږ او ریدل کیده مګر د دوی نه!

ژمی هم یخ راغی، نه تیل وو او نه لرګي، دورځې له خوا خو به لمر ته، هغه هم د ژمي لمر ته له ناچارۍ یوه چاره کیده، مګر د شپې له خوا به ټولو د خلکو خبره چاقووان په لاستي کول. له بده مرغه چې ډوډۍ هم دوی ته په سختۍ رسیده، او کله خو به بیخي نه رسیده، په ښار کې له یوی نا حیې څخه بلې ته تګ داسې شوی ولکه له یوه هیواده بل ته، یوه ورځ به اشپز نه و راغلی، بله ورځ به څه نه وو چې هغه پاخه کړې وای، کله کله خو به ان جګړنو هم د دوی د خولې برخه ووهله، ځکه چې اوس خو نور ناروغان نه وو، د دوی په باب خو یې همدا خبره کوله چې «دیوانا نانه چه موکنه»! «لیونیان ډوډۍ څه

کوي!»

په دغه کوټه کې هم هر لیونی (!) دري دري کمبلې درلودې. قوماندان ته چې نور څه په لاس ورنه غلل نو امر یې وکړ چې دوه دوه کمبلې ترې واخلي دوی په یخنی څه پوهیږي! دا کار یې وکړ، مګر دوی بیا هم ځانونه ونه ښورول او نه یې سترګی راپورته کړې. چې له کوټی ووت، د ښو د دربي غږ یې هم ورک شو نو بیا یې سرونه پورته کړل، یوه او بل او شاو خواته یې کتل.

www.libtool.com.cn

د لیونتون پاچاهي هم په غلو واوښته. هو په غلو، په وحشي غلو، اوس هغوی ته هیڅ هم نه وو پاتې، د خلکو خبره چت یې بړستن وه او د ژمي د ځلي یخه ځمکه یې نالۍ (دوشکه) وه. ټولو یواځې په خپلو منځو کې یوه او بل ته کتل، یواځې د یوه ترخولې په نیمه او نیم بنده ژبه دا راوتلی وو چې:

- دا څوک دي؟ هغه درانه بادونه او بارانونه چې لګیدل، اوریدل او ټول ویرې او ډار په سر اخیستي وو اخر همدا ترې راووتل؟ تر دوی خو چې ما ته دا بادونه او بارانونه لګیدلی او اوریدلی وای. هم به د خدای حق پر ځای شوی وای او هم د خلکو، د بنده ګانو! ... (خندا) افسوس چې اوس خو د دوی نه دین شو، نه سادین! ؟... دوی به هم خوشاله وي چې... (خندا)

جګړه نوی دویشتو شپو ورځو ته رسیدلې وه، د لوی روغتون د لوبیي ودانۍ په بدن کې داسې ځای نه و پاتې چې هغه به زخمی نه وي له لرې به د غې لوبیي ودانۍ سرې ته خپله ځګرخوني ورښوده، هو دا به یې هم ورښوده چې د دې غیرږه د هیلو او امیدونو غیرږه وه، خو اوس یې هغه هیلې او امیدونه ټول په ویرونو او غمونو ښتي دي. اوس دا خپله خپلو زخموته ګوري او ژاړي:

یو زخم نه دی چې به روغ شي......

پوره یوه اونۍ جګړه دومره درنه شوه چې د لیونتون خواته چا سترګې هم نه شوای ورکړ ولای، ځکه په دغه سیمه کې چې به پشۍ هم وښوریده، له هري خوا به د درنو درنو وسلو ګوزارونه پرې کیدل. تر ټولو بده خو لا دا وه چې لیونتون دغره په لمنه کې واو د غره له سره هر څه لیدل کیدل، د غرو د سر جګړنو به چې هر څوک لیدل دوی فکر کاوه

چې د ښمن دی او تر اور لاندې به یې کړ.

نن دویمه ورځ او دریمه شپه وه چې د لیونتون ناروغانو ته نه چا څه راوړل او نه یې چا پوښتنه وکړه. هغوی ناروغه وو، هغوی روغتیا ته اړتیا درلوده، هغوی ډوډۍ غوښته، مگر داسې څوک چیرې وو چې دا خبرې یې اوریدلی وای او یا یې په دې باب له عاطفې څخه کار اخیستی وای، خیر او خیرت و، دلته فضا داسې شوې وه چې د انسان غږ د گولیو په دربهار او ټکهار کې دومره غریب شوی و چې د اوریدو نه و. د اورونو لمبې لیدل کیدې، د کورونو رنګیدل لیدل کیدل، دا کارونه په سر لوړې سره کیدل، خو انسان او د هغه غږ د لیدو او اوریدو نه وو ځکه چې انسان په خپله انسان ته لیوه شوی و او د هغه وژلو ته تږی!

www.libtool.com.cn

شپه ډیره یخ وه، ناروغان ټول له یخنی څخه لکه قیچې کړچیدل، لوږه بله بلاوه چې پر دوی باندې راغلې وه، دیوه په رنګ کې هم وینه نه وه پاتې، څو ورځې کیدې چې ډوډۍ یې د چا خبره د چا په لاس کې هم نه وه لیدلې، نه لوږې او نه هم یخنی داتوان ورپریښی و چې نور باید دلته پاتې شي، هو ښه تیاره وه او ښه یخنی، چې نور نو د ټولو دمه په ختو وه، هغوی اته تنه وو، چې له کوټې ووتل په اتو لارو شول، یعنی هر څوک په خپله خپله روان شول، ځینی ځینی خو داسې هم شول چې وړاندې وروسته یو پر بل پسې وو، هغوی چې وړاندې وروسته په یوه لاره تللی وو د شپې په تورتم کې په جګړنو باندې واوښتل، تر هغویې چې پیژندل نو بیا په گولیو سوری سوري دیوه او بل په غیږه کې په وینو لیت پت لویدلي وو او د مرګ زګیروی یې کول، هغوی چې په بې لارو لارو تللی وو په هغوی کې هم یو د عام سړک په سر د... پتنګانو ویشتلی و، له ټولو لیونیانو څخه یو، دوه ژوندي پاتې وو، نور ټول په هغه شپه ووژل شول. هو، په هغه شپه، په هغه سړه او بدمرغه شپه!

په سهار یې سړه سیلۍ لګیده، هر څه کنګل کنګل وو، د سړک په سر او د ونو په منځو کې انسانان هم د کنګل په غیږه کې پراته وو هو انسانان، لیونیان(!) هغوی چې دا څو ورځې یې چا نه د ښه او نه د بد، نه د لوږې او نه هم... پوښتنه کړې وه.

انسانانو (!) یې وینی په گولیو تویې کړې وې خود کنګل د شیشې په زړه کې

همداسې امانتي كښته او پورته كېدې، هغوی چې څو تنه په يوه ځای كې اوس لكه دو چې ځيرې ښاخونه يخ وهلي پراته وو، له شرمه (!) يې لكه لرګي موټر ته ورخطا كړل او هغه چې يوائې د عام واټ پر سرلګيدلي و، هغه ته هم ورغلل، داسې ښكاريده چې هغه تر اوسه هم ژوندی و، ښي لاس يې په وينو سور په ځمكه د يوې كلمې (الله) تر ليكلو وروسته همداسې پاتې و، خو جاهلو دې ته هم ونه كتل او هغه يې هم د نورو مړو مينځ ته ورخطا كړ، موټر حركت وكړ، ما په وينو ليكلی (الله) ته كتل، چې د كنګل په هنداره كې يې په هغوی پسې سره لمبه كوله او اوښكې مې را رواني وې!

كابل د ۱۳۷۱ دلوې

www.libtool.com.cn

www.libtool.com.cn

# سرې سترګې !

هغه کال تر اوسه پورې زموږ د کلیوالو په منځ کې د سختۍ په کال باندې نومول شوی او په دغه نامه سره یادیږي.

ډیر بد کال و ، دورځې په څو څو ځلې موږ کډې بارولو ته تړلې او څو څو ځلې به مو بیرته خلاصولې ، ډار ، وژنه ، بې کورې ، بې پتې او ... دا ټول هغه څه وو چې موږ یې هره شیبه لارې څارلې. دا ویر ماتم په دغو ورځو او دسختۍ د کال په دغو شپو کې زموږ د کور ، زموږ د کلي ، زموږ دقوم او زموږ د ملت بد مرغ یار او یاور و ، یوه ورځ چې موږ کله د ماسپښین د لمانځه سلام وګرځاوه ، دعا مو وکړه ،د جومات ترشنو ونو لاندې یخ سیورې دې ته اړ ایستم چې څو شیبې باید تر دغه یخ سیوري لاندې څادر تر سر لاندې کیږدم او یوه سترګه خوب دې وکړم ، سر مې کیښود لا مې سترګې نه وې سره ورغلې چې د کلیوالو په شور او زوږ راوغورځیدم او د کور پر خوا مې را منډه کړه ، زموږ کډه په خرو باریده ، ټولو همدا یوه خبره کوله چې :

- کډې کډې چې روسان ...

موږ په خپله کډه پسې را روان وو ، شا وخوا ته به مو کتل ، موږ د غره په لور په بې لاره لار را روان وو ، ډیره لار مو را وهلې وه چې ما مې مور ته وکتل ، دهغې سترګې ژړغونې وې ، ژړلې یې وو خو زما ډیر وروسته ور پام شو ، ورنژدې شوم او پوښتنه مې ترې وکړه.

- ولې څه خبره ده ؟

هغې وار دواره راته وویل!

- د خدای لپاره سپینه پشۍ مو له یاده وتلې ده که روسانو ته په لاس ورشي نو ...

خدای شته چې د سپینې پشۍ له یاده وتل زموږ لپاره یو بل ویر او ماتم شو ، زموږ

په ټول کور کې د ناز او بازار خبره نه وه ، له وړ کتوبه تر بوډا تویه په دغه ستر کور کې نه چا نازولی ولید او نه چا چاته ناز ورکړی و ، ځکه چې طبعتاً زمونږ په کور کې دا یو شرم و مګر سپینه پشی بیا هم زمونږ په کور کې نازولې وه او د هر چا غیږ به د دې لپاره پرانستې وه ، هر چا به چې خوږه مړۍ پیدا کړه له دې یې نه سپموله ، د غه نازولی پشۍ په دغه ورځ زمونږ له یاده ووته او زما د مور او ښکی هم د هغې په خاطر ویرجنی ویر جنی راتوئیدې. ماښام تیاره د غره لمنې ته ورسیدو ، مونږ یواځې د خرو له شاوونه کډې را کښته نه کړې ، دلته له هرې خوا کډې راغلی وی ، ښځې او ماشومان په دغو کډو کې وو ، سپین ږیری په کلیو کې پاتې وو او زلیان په سنګرو کې پراته وو ، یواځی زمونږ د سپینې پشۍ حال نه ومعلوم چې هغه به چیری وه ؟ مونږ دا شپه ټوله د دې په غم کې تیره کړه د ټولو په خولو کې همدا یوه خبره وه!

– سپینه پشۍ ، تکه سپینه پشۍ ، که هغه روسانو ته په لاس ورشي نو ...

په ډیرو درواغو ، درواغو اوازو کې دا ځل دا اوازه رښتیا شوه ، ټولي ټولي ، کتارونه ، کتارونه روسان زمونږ پر کلیو ، زمونږ پر کروندو او ان زمونږ د کلي پر زړه هدیره باندې راوختل ، هر څه ورسره وو ، ټانکونه ټوپک ، توپونه او کله کله به دالوتکو کتارونه هم د دوی پر سر سیوري وو ، مونږ د غرونو په منځ کې وو د کلیو او کښنیو هسکو او ټیټو ډیره ښه ننداره مو کوله ، د ورځې خو به دومره خبره نه وه مګر د شپې له خوا به زمونږ د کلیو او درو ننګیالیو د روسانو پر پوستو باندې د قیامت شپې راوستې ، دا جګړه څو ورځې همداسې روانه وه ، خو زمونږ له زړونو نه یواځې یو خدای خبرو او بس ، زمونږ د کورنۍ هر غړی به چې له لرې لرې کلی ته کتل نو په سترګو سترګو کې به یې سپینه پشۍ ، هو سپینه ببره پشۍ کیده. مونږ د هغې په پاتې کیدو ډیر وځوریدو زمونږ په کور کې د هغی ظاهري سپینې جولې ، بل تعبیر درلود ،د هغې دومره درناوی کیده ، چې اندازه یې هر چا ته د حیرانتیا وړ وه ، زمونږ په کور کې چې به دې ته چا په سپکه سترګه وکتل ، او بیا به کومه خبره داسې چې د تاوان خبره به وه را منځ ته شوه ، نو بیا به د سپینې پشۍ سره په اړیکه کې انګیرل کیده. ځکه نو دا ځل هم زمونږ خواشینی د دې په باب دومره زیاته وه چې په دغې ګناه سره مونږ د ډیرو بدو پیښو انتظار یوست. هو ،

www.libtool.com.cn

د ډېرو بدو پېښو ځکه چې مور ګناه کړې وه او سپينه ببره پشۍ را څخه پاتې شوې وه .

مور څو ورځې په غره کې پاتې شوو ، روسي لښکرو څه چې غوښتل هغه يې تر سره نه شواى کړاى ، ځکه چې نه کېده ، دا څو ورځې هم د دوى ليونۍ تنده هغه چې www.libtool.com.cn درلوده يې دلته ماته نه شوه ، ټولې ټولې ، کتارونه ، کتارونه زمونږ له درى څخه په وتو شول ، زمونږ کډې هم له غرونو را کښته شوې ، کله چې مور کلي ته را ورسيدو ، نو تر هر څه مو تنده تلوسه دې ته وه چې خپله ګرانه او قدرمنه سپينه پشۍ ، هغه چې له مور څخه په مساپرۍ کې پاتې شوې وه او مور ورته ملامت وو وموو .

مور د هغې په لټه کې شوو ، په زړو کې مو دانه را تيريده چې هغه به ژوندۍ وي ، ځکه چې هغه زمونږ په نظر عادي پشۍ نه وه ، يوې او بلې خواته پسې وګرځيدو ، هغه مو د کلا د لويې دروازې په سر کوټه کې وموندله ، ما چې کله دروازه ور پرانستله ، هغه د کوټې په کړکۍ کې يخ شمال ته غوړيدلې وه ، چې پرمايې سترګې ولګيدې ، په سترګوکې يې هغه څه نه وو لکه چې مور پخوا پکې ليدلې وو ، لږ ورنژدې شوم غوښتل مې غېږه ورکړم او ويې نازوم ، خو دې تر ناز د مخه هم سترګې راته برګې کړې او هم يې پر ما باندې بريد ته ځان جوړاوه زما باور نه راته ، په مينه ناکه ژبه مې پش ، پش ورته وويل ، خو د دې پروا پرې ونه شوه ، او لکه د زمرۍ په شان يې را باندې را ټوپ وهل ، د خداى فضل و چې دروازه مې زر پسې پورې کړه او که نه نو چې زما به څه حال و .

زر را کښته شوم او پر ټولو مې د هغې د موندلو زيرى وکړ ، هغوى هم په پيل کې ډېر خوشاله شول ، خو چې راغلل او له نژدې يې هغه ، د هغې کبر ، د هغې سرې سترګې وليدې ، نور مو غرض پرې ونه کړ ، څو ورځې مو نور هم ورته وکتل ، ټولو همدا ويل چې : د پردېو د غوړې کټوى مزه په اول کې هر څوک همداسې مستوي هر څوک چې دا څکه کوي په اول کې ځان ترې ورک کېږي سپينه ببره پشۍ هم ګرمه نه ده .

په څو ورځو کې ، د سپينې ببرې پشۍ خبره ، زمونږ له کوره کلي ته او له کلي کليوته خپره شوه ، مګر خلکو بيا هم باور نه کاوه ، ډېرو به دا ويل چې د ډوډۍ ورکولو يې نه دي اوس نو دا خبرې پسې کوي ، دا ټولې خبرې مور واوريدې ، زمونږ بدمرغي په دې کې هم وه چې زمونږ د کاله سپينې ببرې پشۍ بل ډول نوم درلود ، هسې خو سپينې

ببرې پشۍ نورې هم ډېرې وې، هغه د ښيګړې نوم، او د ر ناوی چې دې ګټلی و، هغه د نورو نه و.

موږ چې څومره انتظار ويوست، د هغې په کرو وړو کې بدلون رانه غی، همداسې، سرې سترګې، ببره او قهرجنه خبره به هلته او دلته ګرځيده، موږ نه پوهيدو چې په دې کار کې به د خدای ج څه حکمت وي؟ د کليوالو ډيری چرګې او چرګوړی يې نيمه خوا کړل، خو چا څه نه ورته ويل ځکه چې دا خو سپينه پشۍ وه، هو سپينه ببره هغه هم زموږ د کور! موږ له دغه حالته ډېره په عذاب شو، د کلي سپين ږيری ملا صاحب هم په ټوله کيسه خبر و، په هغو شپو ورځوکې چې موږ د پردیو له لاسه د غرو پر خوا کډه شوو، زموږ په کلي کې له ملا صاحب پرته نور هيڅوک نه وو پاتې، يواځې هغه و چې پنځه وخته به يې په جومات کې د الله دربار ته لاسونه پورته کول او د حق د برې په خاطر به يې لاسونه پورته نيولی وو.

هغه سپينه ببره پشۍ په هغو شپو کې ښه ليدلې وه، لا به د پرديو د پوستې د قروانې بوی نه وپورته شوی چې دا به ورسيدلې وه او د خواری خولې داړې به يې ورته چينګی وې، د هغوی په پاتې شونو به يې ځان وپړساوه او بيا به نو د خپل کور پر خوا پربل شان او شوکت او بل ډول کبر او ناز سره را روانه وه.

د کلي سپين ږيری ملا صاحب د سپينې ببرې پشۍ د ليونتوب افسانه کليوالو ته په ډاګه کړه، ټولو د هغه خبره ومنله، د هغې دليونتوب، د سترګو د سور والی علت اوس ټولو ته ډېر ښه څرګند شو په هغه ورځ يې له وهلو وروسته چې د کلي څو خور وړي سپې پرې ورخوشي کړل او هر ځل چې به يې دا پر ځمکه وهله نو ټولو به همدا ويل چې:

- اخ د خره خرمن د سپي غاښونه

- اخ د خره خرمن د سپي غاښونه!!



www.libtool.com.cn

www.libtool.com.cn

# غرغره!

زما د ژوند نژدې درې لسيزې په داسې درب او درنګ تيرې شوې چې زياته موده يې په ښاري ژوند کې راغلي، ما په دې دومره موده کې، د ګناهګارانو د سزا غرغره د ښار په منځ کې نه وه ليدلې، مګر دا مې اوريدلې وو چې څوک څوک مړ کړي او يا څوک تر دې هم لويه ګناه وکړي، نو عدالت د هغه لپاره د غرغرې سزا ورکوي، خو ما غرغره نه وه ليدلې! هو ما!

زما دې نه ليدو دا ما نا هم نه درلوده چې ګواکې څوک نه وو چې غرغره شوې وای، داسې نه وه، تر غرغرو زياتې او ځورونکې سزا وې هم زموږ په ښار کې وې، دومره خلک چې بې غرغرو زموږ په ښار کې ځوريدل، وژل کيدل او له منځه تلل دا به زموږ په ټول تاريخ کې هم نه وو تير شوي، خو هر څه چې وو د خلکو له سترګو الونيا وو او غرغرې يې کړې کړې د ښار په منځ کې شمالونو نه زنګولې رازنګولې.

په دغه ورځ چې ما د لومړي ځل لپاره د ښار په منځ کې غرغرې وليدې، نژدې يوه مياشت جګړه زموږ په ښار باندې تيره شوې وه، دا ډيره بده جګړه وه، ځکه چې زموږ د ښار نمايي برخه په همدغه جګړه کې ورانه شوه، ډيرو ته په کې ډير څه ورسيدل او ډيرو په کې ډير څه او ډير انسانان له لاسه ورکړل، زموږ د کوڅې سر مست چې په ليونۍ باندې ټولو نامتو کړی و هغه هم له دغې جګړې څخه لکه ماغوندې په تصادفي توګه ژوندی پاتې و، په همدغه ورځ په مخه راغی پوښتنه مې ترې وکړه!

– سرمست خانه ژوندی يې؟

– تر اوسه خو ژوندی يم، خو په ژوندو کې مې مه شماره!

– ولې؟

– بس نو مه مې شماره.

په لاره ورسره ملګری شوم، نا څاپه مې بیا پوښتنه خولې ته راغله:

- دا به څنګه شي؟ څه خبره ده؟

ده په خیر خیر راته وکتل!

www.libtool.com.cn

- ته نه پوهیږې چې څه وشول، او څه به کیږي؟

ما ځان ورته ناګاره کړ ده راته وخندل:

- بدحال دی «څوک پکې خانان شول د چا لاړې ...»

هغه خپله لاره را څخه بیله کړه او ما ته یې همدومره ووې چې: ته لږ نور هم وړاندې درځه د خدای پامان!

هغه دا خبره وکړه او زه هم مخ په وړاندې روان شوم، ډیر لا وړاندې نه وم تللی چې سترګې مې د ګڼو خلکو په ګڼه ګونه باندې ولګیدې، ډیر خلک هلته راغونډ شوی وو، زیاتره خوان لا پرون خبر وو، مګر زه په دې ننداره په نا خبرۍ کې ور واوښتم، چې نژدې ورغلم له یوه سړي څخه مې پوښتنه وکړه:

- کاکا څه خبره ده؟

هغه راته وکتل، هو، یو ډول یې راته وکتل، داسې چې ما فکر کاوه په سترګو کې یې وخورم، د لاس اشاره یې هغې مخامخ وړې غونډۍ ته وکړه:

- خبره هلته ده، هلته ګوره...

زما تر دغه وخته هغې خواته فکر نه و، خو چې وړپام مې شو، نو سترګې مې په غرغره ولګیدې چې څلورو کړیو یې د څلور سریو ککرو ته خولې خلاصې نیولې وې او نرې خو ګرد جن شمال به داسې سره وزنګولې چې یو تر بله به سره تیرې شوې، ما چې هغو ته وکتل او داشا وخوا خلکو ته، په زرګونو سترګو د همدغو کړیو ننداره کوله او د هغو ککرو په انتظار وې چې تر دغو کړیو ژوندۍ ووځي او بیا هم هلته په کې ...

زه هم د خلکو په منځ کې ودریدم او غوښتل مې چې دا نا اشنا ګناهکاران باید ووینم څکه چې ما تر اوسه غرغره نه وه لیدلې هو «غرغره»!

څو شیبې لا نه وم دریدلی چې سر مست لیونی مې بیا څنګ ته راورسید او تر غوږ یې راتیره کړه:

– اوس پوهیږې چې څه کیږي؟ زه درواغ نه وایم: څوک په کې خانان شول د چا لاړې...

څو شیبې مې څنګ ته ودرید خو بیا را څخه ورک شو، زه ولاړ وم او هره شیبه به مې سترګې د غرغرې د کړیو له زنګیدو سره یوې او بلې خواته تلې راتلې، یو یو وار به بیا یو سړی داسې هم را پیدا شو چې د غرغرې په کړیو باندې به یې ګوتې ووهلې، داسې ښکاریده چې هغه کړۍ نورې د دې لپاره تیارې وې چې د ګناهکارانو سرونه باید ترې ووځي.

www.libtool.com.cn

هلته ډیر خلک راغلي وو، د ټولو تلوسه همدې ته وه چې ګناهکاران ووینی او د دوی په غرغره ځړول، زما هم دا نیت و خو چې را یاده به شوه چې اوس به څلور تنه ژوندی راوستل شي او په دغو کړیو کې به بیا مړه راځړیږي په دغه ټکي به مې د زړه دربهار زیات شو، او خدای شته چې نا آرامه به شوم، په همدغه وم او فکر کې وم چې یوځل شور ماشور شو:

– هغه دی راپې وستل، هغه دي...

– توبه توبه...

– الله اکبر... الله...

د غرغرې په اوږده بازو باندې څلور کړۍ ځوړندې ښکاریدې ټولو خلکو فکر کاوه چې نن څلور تنه اعدام کیږي خو کله چې یې مجرمان د دار په تختو باندې ودرول هغه درې تنه وو، له دریو کړیو درې سرونه ووتل او څلور مه کړۍ لا همدا سې شمال زنګوله هو، شمال، ګردجن او دوړن شمال!

یوه په عمر خام ځوانکې په ډیره بیړه په داسې حال کې چې نرۍ خو اوږده بړیره یې شمال په یوه حال نه پریښوده، د دفاع وزارت د اعدام حکم چې څلور تنه پکې اعدام کیدل ولوست، له یوه سړي څخه مې واوریدل چې: دا شرعي سزا نده، بلکې دا په خپله قتل دی ځکه چې په دغه اعدام کې نه چا قاضی ولید او نه هم محکمه او شریعت، هلته چې د شریعت غږ د قاضی په خوله او چت نه شي او د ټولو یقین پری را نه شي هلته د اسلام رڼا په تور تم کې ښکیل ده او د چا د امید تنده نه پرې ماتیږي. دا ډول خبرې د

خلکو په منځ کې نورې هم وې.

د اعدام حکم ولوستل شو، ما چې په دغه شیبه کې هر چاته کتل، نا آشنا راته ښکاریدل په دې مانا چې ظاهر او باطن په دغه شیبه کې له هر سړي څخه په بله شوي وو، ما داسې فکر کاوه او د هر سړي څیرې دا په گوته کوله چې گواکې د گناهکارانو پر ځای دوی ځانونه درولي دي ځکه یې روان او حالات بل ډول وو ، هو بل ډول...

www.libtool.com.cn

دری نامعلوم گناهکاران د غرغرې پر تختو باندې ودریدل، هغه کړۍ چې څو شیبې د مخه گردجن او دوړن شمال یوې او بلې خواته زنگولې را زنگولې هغو اوس د حکم (!) له مخې د گناهکارانو، غلو، زناکارو او وژونکو مرۍ په خپل ټول توان سره کلکې نیولې وې، خوځلور مه کړۍ هماغسې شمال په ماتم څپو کې زنگوله را زنگوله. دری گناهکاران د مرگ په تختو ولاړ وو او د غرغرې د کړیو له منځه یې زموږ ننداره کوله، هو زموږ! چې نه دوی موږ وپیژندلو او نه موږ دوي! ؟

او نا څاپه ړیره ور جلاد په خپله ښې پښه د دار تختـه د گناهکارانو له پښو څخه ووهله او د حیرانتیا شور ماشور ټوله فضا په خپله غیږ کې ونیوله.

- الله اکبر الله اکبر ... الله ...

او غرغرې خپله لیونۍ خوله د انسان په مرۍ باندې خښه کړې وه! غرغره او مرۍ سره ورغلې وې. د دریمې کړۍ ککره تر ډیرو پورې خوځیده، جلاد له غرغرې سره مرسته وکړه او هغه ککره یې هم ارامه کړه، خلک خواشیني، خواشیني سره تیت او پرک شول، ما دریمې ککرې ته په ځیر ځیر هو، ښه په ځیر ځیر وکتل.

د هغې سترگې څلورمې کړۍ ته چې اوس هم یوې او بلې خواته زنگیده را زنگیده خلاصې پاتې وې! ؟

PROPERTY OF ACKU 5516

www.libtool.com.cn

# د وينو ورم

د ده افغانو د بامونو پيتاوي ډير تاوده وو ، لا به لمر سم نه و راختلی چې د هر کور واړه او زاړه به بيا د خپل بامبوتي په کنجک کې سره کواړه شوي وو او د سهار لمر ته به يې له ناکامه ډډې نيولې وې. سر ژمی ډير سخت راغی کابل ټول ژمی په وينو او اورونو کې لمبيده او سوځيده. همدا اوس چې دغه کيسه در ته ليکم، کابل په وينو لړلی بدن ساه باسي او ننباسي. هرې خواته چې ځې او ګورې د کابل ککره ويني او د هغه ويرجن مابنامونه او سهارونه، دردونه، ويني او غمونه، هر دم او قدم چې اخلې په هغه تپ لګيږي چې تر اوسه ويني ترې ځي او زګيروی يې يواځې د ملايکو په دنيا ګی کې اوريدل کيږي او هغوی ژړوي نه « موږ » هو ، نه « موږ » « انسانان! »

نن دويمه ورځ وه چې شامير ماما هم له موږ سره په دغو پيتاوونو کې ناسته پاسته کوله، دوه ورځې مخکی دی د بريکوټ له کلالی په سودا پسې ښار ته راغلی و ، جګړه ونښته، تر ماشينخانې وړاندې پرقبليز لوري مرغۍ هم پر هوا نه شوای الوتلای، ځکه نو دی هم دلته زموږ کره پاتی و ، له زړه يې يو خدای خبرو ، دوه ميرمنې يې له يوې ماشومې لور سره په کور کې پاتې وې، په ټوله کوڅه کې يو د ده اويو هم د ده د ګاونډې تر کاڼ کډې پاتې وې. نور ټول خلک راوتلي وو ، ځکه چې په دغو شپو کې دلته ډير بدجنګونه کيدل، هو ډير بد ، داسې د شرم ور چې کابل يې هيڅکله هم ساری نه وليدلی، لاسونه او ګريوانونه، سترګې او بانه ټول سره ورغلي وو او يو د بل په وينو يې لاسونه سره او وجدانونه ککړ وو ، ځکه چې ورور ، ورور واژه او زوی پلار ، تاجک هزاره واژه، هزاره تاجک، پښتون هزار واژه او هزاره د پښتون د سر دښمن شوی و دا ځکه چې ... راغلی وو او د مسلمان په درد او حق باندې رسيده، هو داد هغو برکت و چې کابل زخمي زخمي و او له هرې کوڅې او کنډر څخه به يې د وينو ورم راته او د زګيرويو زوږ!

د جمعی مبارکه شپه وه ، موږ ټول په صندلۍ کې تاوده ناست وو ، ډوډۍ موو خوړه ، ناست وو او د نن ورځې په سختو ځگرو مو تبصرې کولې ، څلور پنځه تنه زموږ په کور کې داسې وو چې سهار به هر یو په خپلو خپلو کارو پسې وتل او مازدیگر تیر به ستړي او ستومانه بیرته کورته راغبرگ شول ، هر یوه به په خپل وار د خپلې لارې د سترگو لیدلی حال وایه ، خو دیوه له خولې به هم داسې خبره چې مرگ ،چور ، ړنگول او تښتول به په کې نه وو نه اوریدل کیده . په دغه شپه هم هر یوه خپلې خپلې کیسې وویلې ، په شامیر ماما باندې اوربل و ، بالښت ته یې ډډه وهلې وه موږ ورته کتل چې خوب پرې راغی او خور خور همداسې ولاړ ، پلار مې غږ را باندې وکړ :

– ماما دې ولاړ ،بالښت یې سرته سم کړه ، پریږده چې ویده شي .

کوم یوه بل بیا په خواشینی سره وویل !

– هو ، پریږده چې ډیر خواشینی دی ، تولـه ورځ ځـمکې ځـای نه ورکـاوه ، خـدای دی لاره خلاصه کړي چې خاطر یې جمع شی او خپل کورته ورسیږی .

ما په ځای کې سم کړ ، موږ هم خپل ځایونه برابر کړل او په کې پریوتو ، زموږ سترگې نه وې سره ورغلي چې شامیر ماما په ځای کې راغوځار شو او په وارخطایي تر خولې راووتل :

– خیر خدایه ، ، ، خیر ، ما هر څه په تاسپارلي ... خیر !

څو ځلي یې سپځلي کلمه تر خولې راووته ، په تپه تیاره کې لاس تر زني لکه لیونی ناست و ، موږ د ده نور کره وره او تر هیدلی څیره نه لیده ، یوازې د ناستی په حال کې د ده حیـران دریان سیوری ، د کوټی په تور تم کې موږ ته ښکاریده . له بده مرغه چې په دغـه شپـه موږ د څـراغ تر څنگ اورلـگیت هم نه وایښی ، ټول را پورته شـوو یوې او بلې خواته په اور لگیت پسی گرځیدو ، په تیاره کوټه کې یو په بل لگیدو یو پر بل مو غږ کاوه :

– پیدا دې کړ !

– نه !

– نه ! . . نه !



www.libtool.com.cn

مور، اورلګيت ونه موند چې څراغ ولګوو، بيرته ټول په تورتم کې په خپلو ځايونو باندې کيناستو، مشر وروړ مې په ما ماغږ وکړ:

- ما ما ... ما ما څه خبره ده؟

www.libtool.com.cn

- خيريت دی، وډار شوم، ډير بد خوب مې ليده.

- له کور سره دې سودا ده، سبا سهار دې د تلويزيون د غره (آسمايي) په ډډه کې خامخا کورته رسوم.

-هو، سبا که مرم هم نور نو دې پاتې کيدو نه يم. ډير بد خوب مې وليده.

- څنګه؟

-خوب مې ليده چې په خپله کوڅه کې، هو په خپله پلرنی کوڅه کې، نا څاپه اته، نهه نا آشنا کسان را په مخه شي، هر يوه يې په يوه خوروړي سپي کې ځنځرونه اچولي، خو چې ما ويني، څه د نا آشنا کسانو اشاره ده او څه هم د سپو خوروړي اوليونی بدمستي، ټول يو پر بل پسې پر ما را دانګي او زه چيغي وهم چې د خدای لپاره ...ويې خوړم، ويې داړلم ...... د خدای لپاره ......

د ماما د خوب په باب مور، نه د ښو خبره وکړه او نه د بدو، ټول ارام شو، سرونه موپټ کړل او ويده شو.

ملا اذان مې مشر وروړ ماما تر لاس ونيو او دواړه د دهمزنګ د کلاليو په لور د آسمايي په ډډه کې وخوځيدل، نن يو څه ارامې ښکاريده ځکه چې تر لمر ختو پورې زمور، د کورونو په شاوخوا کې نن نه د درنو ګوليو اورونه او دودونه پورته شول او نه هم د ښځې او ماشومانو چيغې او فريادونه! مور، خوشاله وو چې ماماموله کوره ولاړ، نن به خپل کورته ورسيږي او زړه به يې ارام شي. هغوي ډير دوخته زمور، له کوره ووتل، لمر هسک راغلی و چې بيا د توپونو ګولۍ په غرغړ و او دربيدو شوې، مشر وروړ او ماما په هم هغه قيامت کې د کلاليو برې څنډې ته ځانونه ورسول، خو قيامت لا روان و، د دهمزنګ او بريکوټ هغه له شور اوزوړه ډکې کوڅې داسې خالي خالي وې چې د «انسان» ژړا ورته راتله، هو د «انسان»! تر دارلامان او پغمان پورې ټوله سيمه د اورونو او دودونو ډکه سيمه وه، په هره کوڅه کې يو، دوه، ...... لس مړي پراته وو، ځکه

چې کورته روان وو اوهریو یې تر کوره نه ورسیدلی، یواځې هغوی چې لا د خدای پور ور باندې و، هغوی یې لا ژوندي پرینبي وو او د غه نادودې یې یوه یوه پرې لیدله، په ځینو ځینو کوڅو کې خو هر چا له ورایه لیده چې سپي ،هو، د بازار د سر ده ډه یې سپي د انسان په غوښو ځانونه مړوي او انسانانو ته په قهر قهر گوري، داسې چې ته به وایې د انسان غوښې خوړل د دوی طبعي او ابدي حق دی.

www.hbtool.com.cn

او شامیر ماما په ډیره وارخطایي سره دروازه وډبوله، گولۍ همداسې هلته او دلته ورته لگیدې، بیا یې زر دروازه ووهله خو څوک را معلوم نه شول، په دریم ځل یې چې زره ډیر تنگ شو نویې غږ وکړ:

– و شاترینې ځوانیمرگې دروازه را خلاصه کړی.

خو د چا څپ څب او ښکالو یې تر غوږ نه شو، ترکانړ گاونډی یې په هر څه خبرو، هغه هم دابد زیری نه شو پرې کولای، ځکه راونه واته، ماما خپل پتو په ځمکه کیښود او پر دیواله وروخوت. ور پورته شو، لا هغې خواته نه و ورکښته شوې چې ژبه یې بنده بنده شوه:

– څه... څه شی، درخانۍ او فیروزی، مه، مه مړي......

خبره یې لا په خوله کې وه چې لکه ویشتلی مرغه د انگړ پر خوا ورولوید، او سپینې سترگې د خپلو میرمنو جسدونو ته واړی ختلی ودرید، هو جسدونو ته: لوځ لپړ، تی پری شوي، ویښته په وینو اوختو کې لیت پیت، بې سیرته او بې عزته! د دوولس کلنې شاترینې خو درک هم نه و، ترکانړ هم په لگیدلی پښه ماما ته ځان راوساوه:

–راغلل، د کوڅې ټول کورونه یې لوټ کړل ،ښځې یې بې سیرته کړې، او جنکۍ یې له ځان سره بوتلې، زه یې هم په پښه وویشتم، ستا میرمنې یې ډیر وځورولې ځکه چې دوی «......» ویله او څه یې چې له توانه وشول، هغه یې وکړل، او شامیر ماما جسدونو ته واړې ختلی ولاړو، څو شیبې یې خپلو میرمنو ته او هغو پلو نو ته چې د انگړ په منځ کې تللی وو او راغلي وو او ټول په وینو سره وو وکتل، په ذهن کې یې یو څه لکه برښنا پړقیدل:

–څنگه به یې وژلی وي؟

-ځنګه به یې په بې رحمی تې پرې کړي وي.

- څه چیغی به وی؟ او څه بې رحمي!

-او شاترینی به څنګه چیغی وهلی؟

www.libtool.com.cn

- اسلام! هو همدا ......؟ نه!

او نور نو په شامیر ماما کې څه نه وو پاتې، زما مشر ورور او زخمی ترکاڼ ورته په ژړا شول!

www.libtool.com.cn

# د گور چنجي

د ماشتي اتمه نيته وه چې لويه انا مړه شوه، ډيره لويه هنګامه جوړه شوه، او دا زما په ژوند کې ډيره مهمه هنګامه او ډيره لويه مړينه وه، ډير خلک خواشيني وو، ډيرو ژړل او د کلي د ښځو په مخونو خو د ښيړو وارنه کيده، کليوال ځوانان به چې يوه او بل ته په مخه ورغلل ټولو به همدا ويل چې: لويه انا مړه شوه، لويه نيکمرغي مو د لاسه ورکړه د کلي تر ټولو بوډا، جانو اکا هم لکړه په لاس په ډير وخواريو په دغه غمجنه ورځ راووت د کلا په لويه دروازه کې ودريد او په لوړ آواز يې وويل:

– ښه شوه چې دا د غم زانګو خو را نسکوره شوه، پوره څوارلس کاله مې ورته ونه کتل، خبره مې ورسره ونه کړه نفرت مې ترې کيده، ځکه چې له مور زړو څخه وتلې وه، په زړه ...... يې د ځوانۍ پيښې کولې، او د هغو په کتار کې دريدلې وه، ښه شوه ... چې ... دا د غم زانګو خو را نسکوره شوه، او اوس به يې خدای پاک د ګور چنجيو ته حواله کړي، هو، ښه شوه ...

د جانو اکا خبره لا پای ته نه وه رسيدلې چې ترې راټولو ځوانانو نور هم د ژړا و وغږ او زوړ اوچت کړ او په لويه انا پسې افسوسونه او فريادونه زيات شول، ځينو ځينو خو ده ته هم غابښونه چيچل خو دا چې زموږ په کلي کې ځوانانو د لويانو ډير درناوی کاوه نو يې خوله هم نه سوری کيده، يواځې ژړل يې او د غم زوړ يې پورته و جانو اکا بيا لکړه مخ په وړاندې کيښوده له ځان سره بنګيده:

– شرميږي هم نه، لا پسې ژاړي، هوه خو د به پسې ژاړی، د هغې هردم او قدم د تاسې لپاره و، هغه وه چې د تاسې مخ يې له زړو ګرځولی و او دا هم په تاسې درګډه شوې وه، اوس به خدای پاک ورسره ګوري او د ګور چنجي هم په دوو پښو ورته ناست دی، هو په دوو پښو ...!

دا نورې خبرې خو يوه خوا مګر دغې يوې خبرې چې «د ګور چنجی خو په دوو ورته

ناست دي » زما په زړه هم غله را گډ کړل او په لویه انا مې زړه وسو چې ، ته گوره هم مړه شوه او هم به اوس « د گور چنجي » دا خوراکې ځوروي. تر دغه وخته ما ته ژړا نه وه راغلې ، خو د غې خبرې زه دې ته اړایستم چې ژړا راشي او لکه نور ځوانان په زوره زوره وژاړم. ما چې یوې او بلې خواته وکتل رښتیا چې په لویه انا یوائې ځوانان خواشیني وو ، یو ځل د لویانو یوې بلې ډلې ته ورنژدې شوم ، یو څوک نوی د کلا مخې ته راغلی پوښتنه یې وکړه:

– خیریت دی څه خبره ده ؟

گل مست کاکا ورته وویل!

– خیر دی « انا مړه او تبه یې وشکیده »

– خیر ما فکر کاوه چې کومه لویه خبره ده.

د غې خبرې زه نور هم خواشنی کړم ، په څنگ کې مې د گوډ لالا زوی ولاړ و او په چغو شو:

– گل مست کاکا ته ولې نه وایې چې « لویه انا مړه شوه ، لویه نیکمرغي لاړه ... ولې مور خو تباه شو ، ته نه پوهیږې چې د کلي برکت لاړ ، مور به له چا سره خاندو ، مور به له چا سره دردونه وایو ، او مور ...

لویه انا ټول کلي ته اناوه ، د هغې په تقوا ، میرانه او مشوره باندې هر چا باور درلود ، د کلي غم او ښادۍ ته دا رسیده او د کلي ستونزې به ټولې دې حل کولې ، یو کال د څو ورځو لپاره غزنی ته د زیارتو نو په خاطر تللې وه نژدې مو ټول کلی سره غوښه او چاړه شوی و ، زمور د کلي د ځوانانو ځکه حیا ترې کیده چې دې ټولو ته قرآن شریف ویلی و ، زمور ټولو ځوانانو دالهي کلام استاده وه ، ځکه زمور په ولس کې یوه نیمگړتیا دا وه چې ملا به مو ونیو یوائې د ژمي په سړو شپو کې به په جومات کې لیدل کیده او هلکانو ته به یې مات وگوډ درسونه ویل خو چې هوا به توده شوه بیا به د درمندو تروخته نه ملا و او نه جومات. خو لویه انا به سرو کال په کلي کې وه او ټولو ته به یې قران شریف په پرله پسې ډول وایه ځکه زمور ټولو ځوانانو قرآن شریف زده و زما ښه په یاد دي چې یوه ورځ مو د کلي د مخ تر شنو ونو لاندې قرآن شریف ولوست ، ټول

هلکان لاړل، زه لا هم هلته وم چې انا داوبو د تګ بهیر ته لاندې کتل او دا شعر یې ورته زمزمه کړ: «شرین عمر چې تیرېږی دریغه دریغه - داوبو په شان بهیږي دریغه دریغه»
له هم هغه وخته تر اوسه دا شعر زما په یاد دی او له ویلو سره یې یو ځای لویه انا زما سترګو ته درېږي. په دغه ورځ چې انا په لوی کټ کې پرته وه او ما به ورته کتل نو همدغه شعر به مې په غوږو کې انګازې کولې: شیرین عمر چې تیرېږی دریغه دریغه - د اوبو په شان بهیږی دریغه دریغه»

www.libtool.com.cn

لویه انا یې د هدیرې په لور واخیسته، نرې نرې باد به یې یو یو ځل د کټ له سره سور شال په خپلو څپو کې راواخیست پورته، پورته به یې واچاوه، خو زر به بیا یو تن ور د مخه شو او د لویې انا په کفن به یې وغوړاوه.

په هغه شیبه کې چې د دې جنازه یې د وروستی خدای پامانی په خاطر د لویې کلا په دروازه کې کېښوده، زموږ په کلا کې د ماشومانو او ښځو داسې غوغا جوړه شوه چې تا به وې نن زموږ په کلی کې قیامت دی. ټولو ژړل، ټولو افسوسونه او فریادونه کول، په ځوانانو خوګرد سره توره شپه وه، هغو ټولو په سوز نده ژړا کې هم چیغې وهلې چې: «لویه انا لویه نیمکرغی وه او له موږ څخه لاړه، هو لاړه ... د خدای لپاره ...

مګر جانو اکا لا هم هغسې غږ مبیده، هغه هلته وراندې د جومات دیواله ته له څو نورو سپین ږیرو سره یو ځای ډډه وهلې وه، زه یې تر څنګ تیر شوم، بیا مې غوږ ته هماغه بنګیدا راغله: ښه شوه چې دا د غم زانګو را پریوته او پاک خدای به یې د ګور چنجیو ته حواله کړي، هو د ګور...

جنازه د هدیرې پر خوا اخستل شوې وه، لویا نو او په عمر پخو خلکو به وار په وار اوږې ورکولې او هڅه یې کوله چې زر یې په خاورو وسپارې، مګر ځوانانو او ماشومانو بیا برعکس ژړل او نه یې غوښتل چې لویه انا دې نوره د تل لپاره د دوی له سترګو الونیا شي، لویان په جنازه پسی روان وو، خو ما شومان او ښځی چا نه پریښودل چې د کلا تر لویه دروازه دې راووځي، ځکه نو هغوی د لویی انا جنازې ته اوږې ورکړې وې او دوې پسی ژړل، تر هغویې چې خاورې نه وې پرې اړولې دوی د کلا لوړو بامونو ته پورته شوي وو او په لویه انا پسې یې په لپو لپو ژړل، هو په لپو لپو! لوږ مازدیګر وچې خلک

ساړه هډونه له هديرې څخه د کلي پر خوا را روان وو او په لويه انا يې دلی دلی خاورې ورواړولې، مور ځوانانو يوه په خپله طبع برابره انا درلوده او هغه هم خدای راڅخه واخيسته، ځکه چې دخدای مال وه څو ورځې يې په دې دنيا مور ته راوښوده، او لاړه ...

www.libtool.com.cn

ما دوه غمونه په دغه ورځ چې لويه انا مړه شوه خپل کړي وو، يو خو د انا د مرګ غم و چې ټولو کاوه، او بل څه چې زه يې هم ژړولم او هم ډارولم هغه د جانو اکا د خبرې وروستی برخه وه چې «او پاک خدای به يې د ګور چنجيو ته حواله کړي، هو د ګور چنجيو ته!»

د دې خبرې را يادېدو به هره شيبه زما په ذهن باندې ټکې را ورولې، له يوه او بله مې دې خوا او هغې خواته د نو موړي معما پوښتنه وکړه خو چا داسې روښانه ځواب چې زما غم پرې تسل شي رانه کړ، ما ښام تيار شو، شپه شوه چې سر مې په بالښت کېښود په همدغه چورت کې خوب يووړم هو، خوب.

شپه به پخه وه او که به نه وه، نه پوهېږم چې څه وخت به و چې يو چا، هو، يوه سړي، يوه ښکلی نورانی سړي تر لاس ونيوم، هو تر لاس، کله چې مې د هغه لاس په خپل لاس کې ونيو، فکر مې کاوه چې نور نو له هيڅ شي او هيچا نه ډارېږم ،هغه ما ته په يوه داسې ژبه او داسې شان تر غوږ را تيره کړه چې ګواکی زه د ګور له چنجيو څخه ډاريدم:نور مه ډارېږه، راځه چې زه يې دروښيم. زه يې د هديرې پر خوا روان کړم لا د لويې انا قبر ته نه وو رسيدلي چې يو ځل مې د هغې خيره تر سترګو شوه، ما هغه وليده، راته ويې خندل څه يې ونه ويل او خيره يې رانه ورکه شوه، زه په همدې فکر کې وم، لږ خواشينی غوندې هم شوم، ځکه کله به چې لويه انا په کلي کې په مخه راغله، نو خامخا به يې يو څه، يو نصحت، يوه ښه خبره تر خوله راوته د فکر دالړې مې لا پای ته نه وه رسيدلی چې نوراني لا روي د لويې انا د قبر سرته ودرولم او په خوږه ژبه يې پوه کړم چې!

– اوس يې ښه ننداره وکړه، دا د ګورچينجی دي او دا هم د لويي انا لوی جسد!

ما چې لاندې و کتل، رښتيا هم چې بله ننداره مې وليده: شور ماشور، يو بل تر پښو لاندې کول، ديوه وهل د بل جګيدل، د لويي انا پر جسد داسې وربلوسيدل لکه

ليوان، بى نظمى، بى اتفاقى، ځان ځاني، بى ننګې بى ناموسي... دا ټول هغه څه وو چې ما په سترګو ورته کتل، زه ډير وارخطا شوم، ډار په سرواخيستم،زر مې خپل ښى لاس د نورانى سړى لاس ته ور واچاوه، او د هغه لاس مې بيا کلک ونيو، زر مې دزړه تسل وشو! ډارېږې به نه! ما چې د لويې انا پر جسد دا بده ورځ وليده تر خوله مې په ډير افسوس سره راووتل:

- بابا، لويه انا ډيره ګنګاره وه چې داحال پرې جوړ دى؟

- نه! هغه اوس لويه انا نه ده، هغه څه چې لويه انا پرې اناوه، هغه، اودا مرداره چې د ګور چنجى يو بل پرى خوري يوڅه نه دي، هغه ځلا چې مخکې د هغې په ترخ کې لويې انا درته وخندل او بيا درنه ورکه شوه او داوحشت يو شى نه دي، يوائې د ګورچنجى داسې فکر کوي چې که دامرداره وروند رسيږي نور څه نشته همداوجه ده چې يوه او بل ته ليوان دي او يو پر بل وربلوسي...

نور نو زما خولې ته هم نه راتله چې انا... لويه انا ... ځکه چې نورانى بابازه په رمز پوه کړم،اوس مې يوائې يو څه ته ګوته په غاښ وه چې هغه د ګور د چنجيو معرکه او مسابقه وه، او بس!

مرداره خلاصه شوه، د ګور چينجې وازې خولې پاتې شول،تر څو يې چې توان درلود مقاومت يې وکړ،مګر ورو ورو خبره دې ته راورسيده چې نوره نه کيده او يوه بله لوبه پر هغه ميدان جوړه شوه چې هلته د لويې انا مرداره خلاصه شوې وه نورانى بابا مې بيا لاس کښيکښ: دا ننداره هم په ليدو ارزي!

هو دا ننداره: ډلى ډلې جوړول په نور وداړې اچول، وژل، او د هغون وينى څښل، لنډه دا چې يو بل ما تول او د هغو خوړل.

ما چې دا ننداره وليده ډير نا آرامه شوم، زړه مې دومره په تنګ شوى و چې نور مې د ګور له چنجيانو څخه نفرت کيده، له ډير نفرته مې سترګې پټې ونيوې، هو پټې! څو شيبى مې لاسترګې نه وې پټى شوې چې نورانى بابا وښورولم: دا ننداره هم په ليدو ارزي!

ما چې سترګې خلاصې کړې اوس نو په ميدان باندې يوائې يو څو تنه پهلوانان

پاتې وو، ما فکر وکړ چې دا نور ګواکې ټول تنبتیدلی دی، زر مې له نوراني بابا پوښتنه وکړه:

- دا نور عالمونه لکه چې وتښیدل یواځې دوی پاتې شول؟

www.libtool.com.cn

هغه بیا راته وویل:

- نور عالمونه ټول همدغو څو پهلوانانو چې وینې یې وخوړل، اوس دوی پاتې دي او دا میدان، هو، دلویي انا د مردارې میدان!

زما ویښته زیږه شول، په ځان پوه نه شوم ترمخوله مې راووتل!

- بابا څنګه یې وخوړل! دا څنګه ښکلي ښکاري، څومره درانه حرکتونه کوي! دوی خو به یو بل نه خوري؟ که دوی هم یو بل سره وخوري بیا به د ګور چینجي له کومه کیږي؟ دا مردارې چې روح ترې لاړه شي، دا به بیا څوک خوري؟

- خو له چوپه ونیسه، دغو څو تنو پهلوانانو عالمونه خوړلي دي، عالمونه یې په ګیډو کې دي، دا ظاهراً تا ته د ګور د چینجیو په شان له هم هغې ډلې ښکاري او که نه دا هر یو اوس یو بیل ښامار دی، دې ته اوس د ګور دعادي چینجي په سترګو مه ګوره، دوې ته دې ښامارانو په سترګه ګوره، هو، د دوی په ګیډو کې عالمونه دي، ټول یې وخوړل خو لا دوروستی بر خلیک په خاطر د مردارې په میدان باندې پاتې دي، ما بیا د نوراني بابا لاس کلک کړ بیا مې پوښتنه ترې وکړه:

- د دوی به پای څه وي؟ ولی په میدان ولاړ دي؟

نوراني بابا یواځې دا ووې:

- د دوی پای هم لکه د دوی د پیل په شان دی، دلویي انا په جسد یې ځانونه ماړه کړل، بیا دومره پیاوړی شول چې نور چنجي یې په ډېره بې رحمي وخوړل، هو، ټول یې وخوړل، اوس دا دی بیا په میدان دریدلی، دا ځل به دوی یو بل سره خوري، او په پای کې به له دوی څوتنو پهلوانانو یو اتل کیږي، او دا نور به ټول خوري. له ټولو به دا یو اتل پاتې کیږي، شاوخواته به سترګې اړوي، هیڅ به هم نه وینی او نه به یې څه لاس ته ورځي مرې به او دا د لویي انا ګور به هم له دوی څخه خلاصیږي، ځمکه به په خپل حال وی، لمر به ځلیږي خو دوی به یو بل سره خوړلی وي، پام چې ونه ډارشې!

د همدغې خبرې دلړۍ پای ته رسيدل وو چې مور مې وښورولم:

- پورته زويه، تېوله شپه مې ستا له لاس سترګې پټې نه کړې، نه پوهېږم چې څه در باندې شوي وو.

www.libtool.com.cn

ما چې سترګې لوڅې کړې، سهارو، زموږ کوټه د لمر په وړانګو ډکه وه او مور مې په غېږ کې ونيوم!

کابل ۱۳۷۲ کال سرطان

www.libtool.com.cn

# پرده تیرې، پرما تیرې

تر یوه میاشت هم زما زیاته موده شوه چې له « کوره » را وتلی وم، زما لپاره دا ډیر اوږد سفر او اوږده مسافري وه، زه په زړه ډیر نری وم، چا به چې د پردیسی او مسافری یادونه او دردونه راته ویل پر ما به د زلزلې د شیبو په شان هیجان راته او خدای ته به لاس په دعا شوم چې: خدایه ته یې مه راښيې، او ته مو ترې وساتې... وایي چې له څه دې ښه نه راځي پر هغه د ورمخه کیږي، پر ما هم دا کیسه وشوه او هغه چې نه مې غوښتل را سره شول او را سره ملګري!

له دې ټولو سره سره چې دا بده ورځ راغاړو تلې وه، زما د یوه دوست لیدو ته ډیره تلوسه وه، هغه نژدې پنځه میاشتې مخکې تر ما دلته راغلی و، هر چا به هر ډول خبرې د هغه په باب راوړلې، چا به ویل چې مړشوی، چا به ویل چې د کابل د ورانۍ په جګړو کې بندي شوی، دا ډول خبرې به یې راتلې، رښتیا هغه پرموږ ډیر ګران و، زموږ د خنداوو د شپو ورځو ښه یارو، همدا وجه وه چې موږ به هم له ډیرې مینی هغه « ګل لالا » باله.

په دغه نامه یې له موږ څو تنو پرته نور څوک نه وو خبر حتی په خپله دې هم دې ته نه و متوجه شوی چې « ګل لالا » نوم به زموږ له خوا پرده اېښودل شوی وي. زما ډیره تلوسه همده ته وه او دده لیدو ته، خو پته یې نه لګیده، ډیرې مې یې لارې وڅارلې خو لکه چې دی هم دلته په « ځان » شوی و. یوه چا راته وویل چې ما په روغتون کې ولید، نه پوهیږم چې دی ناروغ و او که یې ناروغ درلود، زما زړه ومنله چې دا خبره بې څه نه ده داچې نه راځي او پوښتنه نه کوي یو دلیل به یې همدا وي. زه له هم هغه سړي سره چې احوال یې راوړی و روغتون ته ورپسې وخوځیدم، هلته ورغلو، ډیرې کوټې او دهلیزونه مو پسې وکتل، خو تر سترګو مو نه شو، ما ته د هغه مزاجي مشکل هم معلوم و، که څه

هم دا د هغه لپاره د هغه په حق کې زما له خوا تیری و چې د هغه پوښتنه باید په رواني روغتون کې وکړم خو زړه مې نا ارامه و او همدا قوماندې را کوله چې د روغتون په رواني ناروغانو کې هم باید د ښو ورځو د یار پوښتنه وکړم، هو د ښو ورځو د یار، د «گل لالا»!

www.libtool.com.cn

هلته ورغلم، خو ما «گل لالا» پکې ونه موند، هلته ورانديې څو تنه په یوه ناروغ را تول ووه زما هم هغې خواته ورتلوسه شوه، ورغلم، زه هم د هغوی په څنگ کې ورته ودریدم، ما هم د هغه ننداره پیل کړه، هغه سندره ویله، هو، سندره یو اوږده او نا آوریدلې سندره، یوه خوږه او له درده ډکه آهنگینه سندره چې ټوله له آشنا او آشنا غوندې نو مونو ډکه وه، هو، له نومونو او افسوسونو!

څو مره نومونه چې ما د ده په سندره کې واوریدل، همدومره افسوسونه او پر نومونو باندې فریادونه هم ورسره ملگري وو، ډیر داسې نومونه هم ما د ده له خولې و اوریدل چې هغوی زیاتره ماته هم آشنا وو، ما هم اوریدلي وو او د ځینو ځینو خو به مې څیرې هم په ذهن کې را انځور شوې،څکه آشنا، آشنا را تر غوږ کیدل، په سندره کې یوه تکراری کړۍ هم وه هو، یوتکراری کړۍ «زه خو تاته ناست یم، چا ویلي چې راځې گله، ولې نه راځې گله، کله به راځې گله؟»

ده به دیو چا، دیوه نامه، ډیره اوږده کیسه په آهنگینه توگه وویله او بیا پای کې به یې بیا همدغه تکراری کړۍ ور اچوله: «زه خو تاته ناست یم، چا ویلي چې راځې گله، ولې نه راځې گله، کله به راځې گله؟»

هلته مخامخ د ده دکټ په څنگ کې په اوچتو تورو دا جمله تر سترگو کیده: «پوره شپږ کاله کیږي چې چا خپلوانو یې پوښتنه نه ده کړې». د شپږو کالونو په ترخ کې د هغه داسې څوک دلته نه وو راغلي چې د ده به خپل وو، ده هم نه شوای کولای چې د خپل ځای، خپلو خپلوانو په باب څه ووایي، ډیرو ډاکترانو او د روغتون مسوولو کسانو خپل وسونه کړي وو، څو څو ځلې چې کوم ادرسونه ده ورته ویلي وو هلته دی چا نه پیژانده. همدا وجه وه چې اوس په همدغه روغتون کې پروت و او هغه یې خپل کور باله، چا به چې د کور او کهول دوره او وربویه پوښتنه ترې وکړه، لنډ ځواب یې همداو: دا مې

کور او کهول، دامې ور او وربوی دی، دا ټول زما دی! هو، دا ټول ... زموږ ولاړو کسانو په منځ کې یو د روغتون ډاکټر هم و، هغه دې نورو خلکو ته د هغه په باب خبرې کولې، د هغه په باب، د هغه د ناروغې، د هغه د ژوند او د هغه د ژوند د پردې پر دغه او هغه مخ! د هغه ډاکټر په خبرو کې د ده د ناروغی په تاریخچه کې یو ټکی دا هم و چې ده ته یې په یوه ځانګړې شیبه کې ویلې و:

www.libtool.com.cn

– دری ورو... ورونه، د ... دوه زامن یې راته ووژل، یو یې ژوندې رانه بوت، وی یې... دي، لور مې یې هم تر لاس رانه ونیوه، او زه یې هم اوبوته واچولم... هو، اوبو ته! ...

د ده دا ټولې خبرې ما ته آشنا وې، داسې چې ګوا کې زه د ده په ټول ژوند او کیسه خبر سړی یم څه چې ده ویل ما ته زما د ذهن هنداري په خپل هغه مخ کې یو یو لکه په برښناکې رابښودل، هو، په هغه مخ کې ځکه مې یو ځل نا څاپه تر خولې ووتل!

– دا خو زه پیژنم، دا خبرې ټولې ما ته آشنا ښکاري، فکر کوم چې دا به ... وی! د ښنګ ملګري مې راته وویل!

– چې پیژنی یې نوم یې څه دی؟

ما بیا خپل ذهن ته رجوع وکړه:

– نوم یې ... نوم یې ... ؟

بیا به یې یاري راسره ونه کړه او هغه چې مې په زړه وو هغه په خوله نه راتلل.

موږ دې خواته ترې را روان شوو، هغه بیا په خپله سندره، هو، په خپله لیونۍ سندره پیل وکړ: «... ولی نه راځې ګله، کله به راځې ګله؟»

موږ کرار کرار قدمونه پورته کول، ده داخل بیا داسې نومونه د خپلې بدلې سر کړل چې نژدې مې بیا د رغتون په دهلیز کې چیغه کړې وه چې:

– بس بس رایاد شو دا خو ...

دا چاره څوځلې د لیونۍ خپسې په شان راغله، لاړه، «ګل لالا» مې له یاده ووت اوزه په داسې چا ور واوښتم چې د هغه د بدلې سرنومونو او افسوسونو اور رالګاوه، او زما په ذهن یې لمبې را پورې کولې، د هغه هر څه ما ته آشنا وو، او ما فکر کاوه چې په ده تیرې پرماتیرې دي، هغه لا سندره ویله، هغه لا نومونه ستایل، هو، نو مونه، آشنا

نومونه، چې زه او ملګرى مې را ووتو او هغه آشنا مو هلته يواځې پريښود، له هغې ورځې تر او سه څو مياشتې تيرې دي، زما هغه نه هيرېږي، هره شيبه مې تر سترګو سترګو کيږي، او هره شيبه يې سندره يو څوک رايادوي، هو، يو څوک يو آشنا! زه هغه پيژنم شايد چې هغه به زما ... وى! «درى ورونه، دوه زامن، يوه لور او يو ژوندى زوى ... » خو د هغه ...

هو، زه هغه پيژنم ، هر څومره چې هڅه کوم نوم يې واخلم بيا يې هم نوم په زړه راځي مګر په خوله نه!!؟

پيښور ۱۳۷۳

www.libtool.com.cn

www.libtool.com.cn

# دوېم ورځې:

# نیمه شپه!

دریمه شپه کېده چې ما ته به په ډېره سختۍ خوب راته، د شپې به تر ډېرو پورې زما سترګې له تور تم سره جوړه، جوړه کېدې ،ما ته به له ډېرې خوشالۍ خوب نه راته، زه به تر نیمو شپو ویښ وم، هغه یوه شپه مې چې کله سترګې سره ورغلې وې،نا څاپه د کوم شي په درب زر راویښ شوم، را پورته شوم. له وړې دربچې مې د لویې کلا منځ ته وکتل، یواځې زموږ ډنګر سپي د لویې کلا په منځ کې په غپا و او کښته پورته کېده، نوره نو داسې ارامي وه چې د چا سپڼ هم نه خاته.

خو زه بیا هم خوشاله وم، بیا مې هم زړه هوس کاوه چې خدای زر زر شپې سبا کړي، چې زه مې له نیکه سره غزني ته ولاړشم ،اصله خبره چې زما زړه پرې باغ باغ کېده همدا وه، ځکه دوه ورځې مخکې مې نیکه دا راته ویلې وو:

- بچیه! سبږ چې کله په مېږو پسې غزني ته ځم تا هم له ځان سره بیایم.

زما نیکه به هر کال پسرلي په لسګونو مېږې اخستې، اوړی به موږې له شدو او وړیو څخه ګټېه اخیستله، وري به مویې ځینی خرڅ کړل او ځینی به مو بل کال ته تر ژمې ایستل، مګر مېږی به مو تر مني پورې ساتلی، منی به چې ښه بیه پرې راغله خرڅې به مو کړې.

دري کاله پخوا هم زه غزني ته تللی وم، هلته مې هر څه لیدلي وو، ښوونځی، نجوني او هلکان، ښکلي کورونه، د خلکو ګڼه ګوڼه، د کانونه، مېوې، غلی او ... دا شیان زما کلیوالي ماشوم لپاره نوي وو د موټرو تیل ماتیل او شور وزوږ زما ډیر خوښېده، سره له دې چې په موټرو کې به زه نه سپوروم اونه به مې مرتړوالا پیژندل مګر ښه را

باندې لګېدل او خوند به يې را کاوه، ما دا ټول خوندونه ليدلي وو ځکه مې دا دوی دری ورځې زړ ګی باغ باغ کېده او خوب يې رانه تښتولی و، زما له نيکه سره د غزني په تګ کې يوه لويه زړه خوږينې هم وه، هو، زړه خوږينې! د غزني دا ټولې ښېګړې يوه خوا او هغه زړه خوږينې بله خوا وه، هغه دا وه چې کله به سهار په مېږو اخستو پسې ګنج «نخاس» ته ولاړو هلته داسې مېږه نه پاتې کېده چې زما د نيکه لاس به نه پرې لګېده، هغه به ټولې کتې، د هريوی په ملا او خېټه به يې لاس واهه او د يوې يوې خوبه يې ان غابښ هم کتل، زه به لکه ښارونکی ورپسې روان وم، دومره به وګرځېدو چې نور به ما د ګرځېدو توان له لاسه ورکړ ده به په مېږو باندې لاسونه وهل، زه به کرار په يوه سيوري کې ورته ناست وم او خپلې چنې به مې چيچلې. يو ځل چې مې زړه ډېر راوپړسيد په ډېره زړه خوږينې مې پوښتنه ترې وکړه:

– بابا دا دومره لاس په هر مېږه د څه لپاره وهې؟

ده راته وخندل:

– بچيه مزې او ډنګرې يې ګورم، چې مزې وې هم ښې شدې کوي هم زرنه خواريږي او هم په منې کې ښه بيه کيږي.

ما د ده د دې خبرې په مقابل کې نور څه ونه ويل مګر په دې پوهېدم چې له ده سره د شدو غم تر هر څه ډېرو همدا وجه وه چې دی بايد داسې مېږې واخلي چې ښې شدې وکړي ځکه چې زه خو مې د خپلې انا په خيال هم ښه پوهېدم چې زما نيکه هغه هم له نظره نه شو غورځولای.

زما دا دری ورځې خوشالي هم بالاخره په دې پای ته ورسيده چې زه مې له خپل نيکه سره غزني ته لاړم، لکه چې دمخه مې هم په ګوته کړه، هغه ښکلي ښارو، ښکلي ماڼۍ. ښکلي هلکان، ښکلي نجونې دا ټول زما لپاره په زړه پورې وو؛ خو د زړه خوږينې خبره يې په ځنګ کې وه، بابا مې څو ورځې بيا هم هغه خپله چاره لکه د پخوا په شان په پرله پسې توګه تر سره کړه، زما په غوږ وکې د هغه خبرې:

«– بچيه مزې او ډنګرې ګورم...» تر اوسه خپل انګازه کول، ما فکر کاوه چې سپين ږيري دی هغه د څو کالو خبره به يې له ياده وتلې وي ځکه مې دا ځل بيا ورته د

زره د پرسوب په خاطر وکړه:

- بابا! دا دومره لاس په هره میږه ولې وهی؟

ده بیا په ځیر ځیر راته وکتل!

www.libtool.com.cn

- لکه چې ستړی شوی یې، څه شی درته واخلم؟

- نه؛ ستړی شوی نه یم، غواړم پوه شم چې ولې یې دومره ملا کښیکاږې؟

-بچیه مزی او دنګریې ګورم، چې مزې وی ښی شدې کوي ...

- ښه ښه پوه شوم؛ پوه شوم ګوره یې ګوره ...

****

نن بیا دا ده له ډیری مودې وروسته لکه د هغو دریو شپو غوندې دریمه شپه کیږي چې بیا خوب نه راځي تولـه شپـه مې د بربښنا له رڼا ووسره سترګې جوړه جوړه کیږي، ارامه آرامي ده، هلته مخامخ یوه دربچه ښکاري چې زما تر قد هم لوړه ده، که ور پورته شم، هم به ګتـه ونه کړي ځکه چې ډیره لوړه ده او زما قد هم ډیر ټیټ! که هغی خواته ترې وګورم څه به ووینم؟ هیڅ! ځکه چې زه دلتـه دادری شپـې کیږي راغلی یم، دا دری شپـې کیږی چې له میاشتـو میاشتـو پرله پسـې جګړو څخه راوتلی یم، نه پوهیږم چې زه به ددغـه ښار دا چې زما نیکه او غـور نیکه پکې هسکې شملې ګرځیدل په کوم ځای کې پروت یم، بیګا چا راته وویل چې «ځانـه خپـلـه ځـانـه» پام چې د نیکه او ... نشـه دې په فکر کې درونه ګرځي، پام چې د هغه خبرې دې هم په خوله رانه شي، دلته تر تادمخه یوه لوی «ګنج» جوړ و، هو یو لوی «ګنج» چې یوه متاع هم په کې بی بیې نه ده پاتې او که پاتی هم وي هغـه د بازار نه وه، پام چې ...هغـوی چې د تـوان خـاوندان وو، هغـوی چې ښونکی یې وموندل هغوی لاړل، هغوی حې مزي وو او ځورب، هغوی تول په رنو لارو ووتل او هغوی چې خوار دی او بی وسه هغه یا پراته دی او یا مري، یو څل یې بیا راته وویل!

- پام چې د غور نیکه خبرې دې په پام کې هم درونه ګرځي دلته داسې توپان راغلی چې پخوانی یو هم د چا په یاد نه دي، هو، پخوانی؛ په هغوی پسې دعا کوه دعا ...

د غـو خبرو یې زه سـخت وډار کړم، په فکر کـې شـوم چې زه به څنګه خپل پخوانی

هیروم، څنګه به خپل نیکه هیروم، هغه خو د ژوند هر څه ماته، زما په خاطر کول، د هغه دم او قدم زما ژوند و او دا دی اوس زما دم او قدم دی.

څو ورځې مې خوله پټه ونیوه، رښتیا هم دلته ټول به «ځان» وو، ډیر نژدی دوستان
www.libtool.com.cn
هم داسې راته ښکاریدل چې تا به ویل دوست نه دی بلکې یو وخت مو چیرته هسې دلاری په سر سره لیدلي دي.

څه موده وروسته هغه سړی بیا را مخامخ شو، هغه چې راته ویلي وو:

– پام چې د نیکه او غور نیکه ...

داځل ما جرأت وکړ او د ډیرو پوښتنو په لړ کې مې دا هم په خوله راغله:

– دلته نور څه جالب جالب کارونه کیږی؟

ده بیا هم بی مقد مې راته پیل کړه چې: دلته بازار تود دی، هغوی چې په «خبره» پوهیږي او مزي دی د هغوی پرمخ د مړو ملکو دروازې خلاصی دی او هغوی چې دیوه دیګ دارو هم نه دی، د هغوی نه څوک پوښتنه کوي او نه یې ژوند اهمیت ورته لري.

په هغه شپه هغه تر ډیرو را سره کیناست، شپه تر نمایي اوښتی وه، چې سرونه مو کیښودل، ما چې سر کیښود، ماته مې نیکه رایاد شو، هغه شپې ورځې رایادې شوې چې زه به یې له ځان سره غزني ته بیوم، هلته به مو میږی اخیستې، په هغو کې به ده بیا پیورې او مزې لټولې، دا ټولې خبرې مې د ذهن په پرده کې لاړې راغلې، خوب نه راته، سترګې مې وغوړلې، تیاره وه، شپه وه، زړمې بیرته پټې کړې. که رښتیا درته ووایم ژړا راغله، ما چې «دلته» دغه حال ولید، نو هغه د نیکه خبره مې رایاده شوه!

–بچیه مزي او ډنګریې ګورم، چې مزي وي ښی شدې کوې ...

زما سرایږدی په هغه شپه تر سهاره په هغې ګرمې کې وچ نه شو!

پښور د جولای ٤– ١٩٩٤

د ١٣٧٣ د سرطان (١٣)

www.libtool.com.cn

# وینه! ؟

نه پوهیږم چې د کوم ځای به وو، چیرې به اوسیده، او د چا زوی به وو ؟ مور به یې درلوده پلار به یې هم ډېره ورځ دغه حال لیده، څنګه به ورته ځوریده، او څنګه به یې د ده خپرې په زړه کې ستنې ستنې کیدې ؟ وس به یې نه کیده چې درمل پرې وکړي او یا به یې د درملو چاره نه وه.

هو، زه هر سهار خپل سر نبه نبوی پرمنځوم، له چای څښلو وروسته، دفتر ته ځم او هلته تر مازدیګر او ماښام پورې په دفتري کارونو بوخت وم؛ نن هم سهار لګه د پخوا په شان راووتم او د دفتر پر خوا روان شوم. خدای شته چې دومره زیات په مینه مینه اوس دفتر ته نه ځم اوس لکه ورځنی مزدور کار لور په لوته تیره کوم او وایم چې ورځ تیره شي.

زړه مې تل شاته ختلی وي او تر نن مې پرون ډیر په زړه او سترګو کې انځور انځور کیږي.

نه پوهیږم چې زما د ژوند پرون ولې دومره جادو ګر و چې ما د سبا په لور په مینه مینه نه لار نبونه کوي ؟ ولې مې نه پریږدی چې مخ په وړاندې دیوې رڼا وړانګو ته وهڅیږم، نه پوهیږم! ؟ همداسې زړه تر شا ختلی روان وم، هلته د لارې په سر په سرو او سپینو منو ډک صندوقونه ایښې وو، زما نا څاپه وریام شو، هو، نا څاپه، چې یو نبکلی زلمی، یو نبکلی افغان، ورته ولاړ دی، په خپل هغه لاس چې پنجه ګرد سره نه لري، کله سرو منو ته اشاره وکړي او کله سپینو ته:

– دا په څو دی ؟

– دا په دوه ویشت.

– دا په څو دي ؟

- دا هم په دوه ويشت.

ځو شيبې يې لکه سودايي له ځان سره څه وويل، ښه سوچ يې وواهه، فکر کوم چې د منو بيه يې له ځان سره په «افغانيو» هم وسنجوله، ځکه يې سروښوراوه او د وکاندار ته يې ووې!

www.libtool.com.cn

- په کابل کې خو د منو دومره قيمتي نه وه، تاسې يې ولې...

دکاندار له سينې وچ سړی ښکاريده، ځکه د ده د خبرې په ځواب کې يې په بې صبری ووي!

- شيخه دکابل خبرې مه کوه ... داخو کابل نه دی ... هو،

ده بيا په جدی توګه خوله پرې ورخلاصه کړه:

- ولی ګنی دا ځای تر کابل ښه دی؟ دومر قيمتي چې دلته ده، په کابل کې مور په خوب هم نه وه ليدلې دکاندار بيا ورته جذباتی شو:

- دا خو درسره منم که هلته قيمتی وای او څه شي ارزښت درلودای، ستا به دغه حال نه‌وای.

- ولې په ما څه شوی؟

- ته لکه چې په ځان هم نه يې خبر!

- دايې په کابل څه؟

- تاسې د خدای پوه کړي، موږ خومونه شو پوه کولای، يه الله ته خو په دغه قوم رحم وکړي، هو په «دغه» قوم!

دکاندار دعا ورته وکړه خو ده بيا هم په خپله خبره ټينګار کاوه:

- په کابل کې خو منې دومره قيمته نه دي، هو، په کابل کې ... دلته تاسې ډير ظلم کوی...

له ډيرو خبرو، کترو ګيلو او مانو وروسته يې په ښې خپره له جيب څخه بټوه را ويسته، کېڼ لاس يې هم له څادره رايو ست، په هغه هم خپره نه وه، دواړه لاسونه يې لکه دوې سيخچې په بټوه بوخت شول، يو زوړ پنځه ګون يې . په خپلو خپرو کې لکه پشو چې په خپلو دوو مخنيو پښو چاته يو څه ونيسی د کاندار ته ونيو، دکاندار چې د ده دغه

صحنه سر تر پایه ولیده ، ژړا ورغله ، فکر کوم د هغه دنګې ونې ، تور وبریتو ، او پښتنې څوانی به ژړا ژړا ور وستلې وي ، څکه يې په ډک ستونې تر خوله را ووتل:

- په کابل کې به څنګه ارزاني نه وي ، د قصاب په دکان کې هم « وینه » بیه نه لري ، هو ، هلته د وینو ډیره ارزاني ده ، ... تا قصابي لیدلې ؟

www.libtool.com.cn

- څنګه مې نه ده لیدلې ، زه په خپله څو کاله د قصاب شاګرد وم ...

- نو چې دومره هم پوهیږې ، منې دې واخله درځه ...

په دوو څپړو کې يې درې منې ونیوې ، د کاندار ته يې لا کاږه ، کاږه کتل ، ترې روان شو ، هلته مخامخ تر ونه لاندې کیناست . شاو خواته يې وکتل ، دواړه بی څپړو « لاس! » يې یوې منې ته ور وړاندې کړل ، هغه يې په دواړو لاسو خولې ته کړه ، هغه يې خوړه او د دکاندار په خبرو يې تبصره کوله:

- ... قصابي دی لیدلی! څنګه مې نه ده لیدلې ، په دې خو زه هم پوهیږم چې د « قصاب » په دکان کې « وینه » بیه نه لري ، هو د « قصاب » په دکان کې!

لا يې دویمه منه نه وه خوړلې چې بیا يې څه په زړه کې ورتیر شول ، بیا يې د دکاندار خواته کاږه ، کاږه وکتل:

- دي يې ماته رابنی چې د « قصاب » په دکان کې وینه بیه نه لری! ؟

پیښبور ۱۳۷۳

www.libtool.com.cn

# کابلی خندا ! ؟

فکر کوم هغه د زنګ وهلې څلې ډیره اوږده شپه وه ، هو ، ډیره اوږده ، ډیره سړه او ډیره درنه! څکه چې مونږ تر سهاره پورې سترګې پټې نه کړې ،توله شپه زمونږ د کورونو پرسر او زمونږ د کورونو په شاوخوا کې د ناراموا و سرې وژونکو ګولیو سرو لیکو او درنو غږونو سترګي او غوږونه یوې شیبې ارامی ته هم نه پرېښودل مونږ به چې په هغه شپه د څمڅې ورې دربچې ته ورنژدې شو ، ستوری به مود سرو ګولیو د تیرښت بیرښت ترڅتر هغې خواته لیدل ، داسې چې تا به ویل زمونږ او ستورو تر منځ د اور سیخونه د بلتانه کرښې باسې . مونږ اوس د تورتم په اوږو د اسمان پر خوا کتل ، او د کابل هغه روښانه آسمان مو اوس په دغه تورتم کې د اور تر پنجرو هغه خوا لیده ، زمونږ په سمڅه کې جوړ قیامت و ، څکه چې مونږ خو اوس د چا خبره ښاریان شوي وو ، د ګهیځ مو ګهیځ راوړه او د بیګاه مو بیګاه ، یوه یوه ډیر تجربه کار سپین ږیری ایله دومره کړی وو چې د لسو پنځلسو شپو غم به یې خوړلی و ، او دانور نو تول د پولۍ پرق ته لاس ترزنه حیران پاتې وو ، د ماشومانو قریادونه ، د ناروغانو سوې غلبلی دا ټول هغه څه وو چې « انسان » ورته حیرانیده ، هو « انسان »!

زمونږ په سمڅه کې یو اڅې خاله نجیبه یوائنی زره ښځه وه چې کله به له نارینه وو سره ناسته وه او کله به بیا له یوه او بل کونجه ښځی پسې راغلې ، دا به یې په منځ کې کینولې وه او کیسی به یې ورته کولی ، خاله نجیبه د عمر په لحاظ تر شپیتو او ښتی وه ، خو هسې د څلویښتو ، پنځه څلویښتو کالونو ښکاریده ، هغه په کابل کې پیدا شوې وه ، ښوونځی ، پوهنځی دا ټول یې په کابل کې لوستی وو ، پلارونه او نیکونه یې په حبیبه او امانیه پاچاهیو کې لوی مخور او وزیران تیر شوي وو ، همداوجه وه چې هغې د کابل د هرې کوځې او ګذر تاریخچه په خوشیبو کې درته ختموله ، هو ، هغې ته ، د شیرپور ،

شهرارا، ده افغانانو، چنداولو، باغ علیمردان، اندرابیو، مرادخانیو کوچه علی رضا خان او نورو کو څو ټول اوسیدونکی یو یو معلوم وو او ښه یې پیژندل، ان تر دی حده چې د نامی ښځو نومونه او کره وره یې ټول له دې څخه پټ نه وو، لنډه دا چې له خاله نجیبې سره د کابل د ښار په باب یو کتاب خبرې داسې هم وې چې ډیر لږ خلک پرې پوهیدل، هو، خاله اوس په دغو ټولو کروورو، او د کابل په باب له خبرو سره زمونږ گاونډی وه او زمونږ د ډیرو ستونزو مشکل گشاه! له هغې سره د خلکو خبره خدای ډیر ښه کړي وو، نیمه ورځ به یې د قرآن په تلاوت تیریده، زامن، لمسیان، کړو سیان دا ټول یې اوس له کابل څخه وتلي وو اوس یوه داوه او یو یې کور، یوه داوه او زمونږ محله!

www.libtool.com.cn

نژدې دوه کاله کیدل چې کابل داور او وینو شیطانانو د خپل غوبل ډگر گرځولی و، دوه کاله کیدل چې ددغه ښار د ټاسه د امیدونو مرغانو دالوتنی توان له لاسه ورکړی و. دوه کاله کیدل چې خاله د چا په شونډې د کابلي خندا نښی نښانې نه وې لیدلې، دوه کاله کیدل چې په دغه ښار کې د یتیمانو د ژړا وو انگازې پورته وې، او ټول ښار د شهیدانو ښار شوی و، ځکه چې په هره شنده کې به ډیره وره جگړه هم وشوه تر زرو لږ کسان پکې نه مړه کیدل، خاله په دې ټولو باندې خبریده، هغه په دې خبره وه چې چهلستون شنگه وسو، د جنگلک فابریکه شنگ لوټ شوه، د میوند جاده شنگه په اور اووینو کې لاهو شوه، دزاړه ښار کوڅې او گذرونه شنگه گډوډ شول، ده افغانان شنگه بی اوسیدونکو شول په شاه شهید کې شنگه کورونه هدیری شول، افشار شنگه دوحشت په تراژیدی کې چوراو چپاول شول؟ په دی ټولو خبره وه، او نن دا دی په بی بی مهرو باندې هم وار راغلی واو دا ورته ناسته وه.

دسختې ځلې له زنگ وهلې شپې را په دې خوا خاله په تپه ولویده، مونږ ټول حیران شوو چې په دې څه وشول؟ ولې داسې شوه دې به د سختو جگړو په قیامت کې مونږ ته زړه را کاوه، او تر خبره لاندې باندې به یې داوه چې!

– خیر دی په یوه پیری کې دوه سقاوی راغلی، هو، دوه سقاوی؟!

خاله د سقاوی په کال غنیه نجلی وه، هغې به چې کوم انځور مونږ ته له هغو کالونه وایه، کټ مټ یې له اوسنیو شیبو سره ورته والی درلود. حتی په ځینو کړو وړو کې

دویمه سقاوی تر لومړی ناولی هم وه.

مور د خاله نا څاپي په تپه لویدو ډیر خواشینی کړي وو، په سمځه کې نور هم ډیر غمونه وو خو کله چې د خاله غم پرې ور زیات شو، نور پر مور هم را تیاره شوه، ښار تول په ویر او ماتم کې ښکیل و، په کو څو کې چا انسان په سترګو نه لیده، مړی به خلکو تر هدیرې پورې نه شوای رسولای، اوس د هر کور په منځ کې یو، دوه قبرونه تر سترګو کیدل، ټول کورونه اوس هدیری هدیری وو او مور هم خاله له سمځی د باندې راونه ایسته. اخر چیری به مو بیولی وای؟ روغتونونه، تول چور شوي وو، په تول ښار کې یو لوی روغتون و د هغه تول وسایل اوس د... خواته ایستل شوي وو، ډاکتران خو هم انسانان وو هغوی هم هر څوک په خپلو خپلو شوي وو.

مور دې ته وارخطا وو چې ګوا کې په خاله کومه کلکه ناروغي لګیدلي ده، هغې هم یوه دوه ورځې ځان همداسې نیولی و، مګر وروسته یې مور تولو ته دا پیغام زیری شو چې هغه ناروغه نه ده، هغې د تیری جمعی په مبارکه شپه خوب لیدلی وه هو، خوب! هغی بی بی مهرو (ع) هغی چې د کفر د لښکرو په وړاندې یې خپل تتر سپر کړ او د آزادی له بیرغ سره د بریو تر کول پورې ورسیده. خاله د جمعی په شپه همدا په خوب لیده چې ورته وایي:

- زما مزار ته د راتلونکی جمعی په شپه راشه، زما هډوکي د ځمکی پر سر پراته دی، زه یې بی عزته کړې یم، راشه زما پرده وکړه، د زمانې د بی حیاوو سترګې زما پر هډوکو مه لګوه، او که نه نور مې هډوکی اور اخلي، هو، راشه زما پرده وکړه!

خاله همدغه خوب لیدلی و، یوه دوې ورځې یې هیڅ خبرې ونه کړې، هغه ډیره خواشینې وه، نه پوهیده چې څه وکړي؟ له چاسره دحیا دغه راز شریک کړي. هغې په همدې فکر کې پوره دوه ورځې د زړه وینی وخوړې، هره شیبه به یې «بی بی مهرو» انا تر سترګو سترګو کیده او خبرې به یې په غوږو کې انګازې:

- راځه زما پرده وکړه، د زمانې د بی حیاوو سترګې زما پرهډو کومه لګوه...

له دریو ورځو ارامی وروسته خاله وه او تودې تودې اوښکی، هغې به کابل ورياد کړ، هغه شپې به و ریا دې شوې چې ښوونځی ته به تله، پوهنتون یې ولوست، ښوونکی شوه

او په سلګونو پیغلې یې وروزلې او په پای کې هیڅ؟ په دغه ټکي به یې له تودو تودو اوښکو سره نرۍ نرۍ فریاد هم پورته شو:

– کابل، زموږ ښکلی کابل، زموږ د عاشقانو او عارفانو کابل، زموږ د خوښیو او خوشالیو کابل، زموږ د ځوانانو کابل، زموږ د امیدونو کابل، زموږ د ژوند کابل، د خندا وو کابل، د حیا وو کابل ...

www.libtool.com.cn

کله کله به په همدغو فریادونو کې په خوب لاړه او ارامه به شوه، په دې خاطر چې ددې مو یو څه فکرو اړولی وي، هڅه مو وکړه چې کله کله یې په لوستلو باندې بوخته کړو، کتابونه موورته راوړل، هرچا چې ښه او جالب کتاب درلود هغه مو دې ته راوړل، یو ځل یې په یوه کتاب کې ولوستل چې حضرت عمر فاروق په ښار کې ګرځیده، له یوه کوره یې د ژړا غږ واورید، ورغی، ویې لیده چې د کور میرمنې یو دیګ چې ډبرې یې په کې اچولې پر اور بار کړی ماشومان یې ژاړي او ډوډۍ ډوډۍ چیغې وهي، عمر فاروق پوښتنه وکړه چې خبره څه ده؟ دا ډبرې ولې ایشوی؟ د کور میرمنې ورته وویل چې ډوډۍ نشته دا مې د ماشومانو د غولولو په خاطر په اور بار کړې دي څو په دې توګه یې تسل وشي، حضرت عمر د زاریو او ښښې لاسونه د الله پاک دربارته پورته کړل چې: ته ما وبښه چې زموږ په ښار کې د خلکو دغه حال دی او زه نه یم پرې خبر، ما ته زما د نا خبرۍ ښښنه وکړه! هو، زما د نا خبرۍ!؟

خاله په دغه لوستنه هم شیبې شیبې په فکر کې لاړه، په دې باب یې فکر کاوه چې عمر فاروق له خدایه د خپلې ناخبرۍ ښښنه غوښته او زموږ په ملک کې د پوره خبرتیا او ګناه ښښنه نه غوښتل کیږي دهغه په زمانه کې د یوه او دوو کورونو هسې حال و، خو زموږ په زمانه کې په زرګونو خلک د خپلو ماشومانو د تسل لپاره د اور بلولو توان هم نه لري، پاچا ځان د عمر جانشین بولي خو په کړنو یې عمر «رض» سرټیټی دی.

په هر ډول دا ټولې خبرې ددې سبب شوې وې چې له هغه شپې را دې خوا دې خاله په ټپه کړي، اوس هغې دې ته سترګې په لاره وه چې د جمعې مبارکه شپه راو سیږي او دا د «بی بی مهرو» پرده خوندي کړي. اوس نو هره شپه داوه او د بی بی انا خبره:

– راشه زما پرده وکړه، د زمانې د بی حیا وو سترګې زما پر هډوکو مه لګوه ...

دې خبرې به یې په مغزو کې داسې درنې انګازې کولې چې تا به ویل د غرونو په منځ کې ولاړې او هاتفي چیغې اورې.

هو، راشه، راشه، زما، زما، پرده، پرده، وکړه، وکړه...

مور نژدې یوه اونۍ د جمعې مبارکې شپې ته سترګې په لاروو، د پنجشنبې په ورځ خاله یو ختم هم وکړ، مور تولو په سمڅ کې د قرآن شریف تلاوت وکړ، هغه ورځ په ټوله ځله کې یواځنۍ ورځ وه چې مور په مړه ګېډه حلوا وخوړه د ماسپښین لمونځونه شوي وو

www.libtool.com.cn

چې مور خاله د بي بي انا د مزار په لور وخوځوله، هوا ډېره یخه وه، د واورې په نرۍ لاره مو حرکت وکړ، لږ لږ واوره هم اوریده، ځکه نن لږ جګړه هم ارامه وه او که نه کله مور له سمڅې د باندې راوتلای شوو، پر مور د اختر ورځ هماغه ورځ وه چې واوره به اوریده ځکه په هغه ورځ مور لږ ارامه ساه ایستلای شوه.

مور لا د بي بي د مزار لور ته نه وو ورنژدې شوي چې جګړه مارو پر مور له هیبته ډک غږ ونه وکړل:

- بیرته وګرځئ او که نه...

زمور له منځه یوه غږ پرې وکړ:

- دغه زړه زیارت ته بیایو، ځو او بیرته راځو!

- دلته زیارت میارت نشته، وړاندې را نه شې.

مور که هر څومره زارۍ ورته وکړې خو هغوی زمور زارۍ ونه منلې او مور یې د بي بي انا زیارت ته پرنښودو خاله چې کله دا ځواب واورید، حال یې ځای پر ځای بل ډول شو، ځای پر ځای کیناسته، تر لاس مو راونیوه او د غونډۍ له لمنې موکرار کرار را ښکته کړه، کله چې د غونډۍ پای ته راورسیدو، خاله نوره د تلو هم نه وه، په څه سختیو مو تر کوره راورسوله، د جمعې مبارکه شپه مو تر سهاره ژوندۍ ورسره تیره کړه.

سخته شپه وه، ډېره سخته او درنه! لا لمر نه و را ختلی چې خاله نوره زمور په نړۍ کې نه وه، هغې د بي بي انا هڅوکې د زمانې د بي حیا سترګو له کتو څخه یوې خواته نه کړل، هغې د بې پردې خلکو د زور له لاسه د بي بي انا پرده ونه شوای کړای، هغې تر وروستۍ سلګۍ پورې د بي بي مهرو د خوب فریادونه خپل فریادونه کړل هو فریادونه چې:

- راشه زما پرده وکړه، د زمانې د بي حیاوو سترګې زما پر هڅوکو مه لګوه، راشه، هو، راشه!!؟

کابل ۱۳۷۲

www.libtool.com.cn

# گلمجمه ببو!

نن سهار وختي ويښه وه، په ځاى کې لټ په لټ اوښته، لا سهار رڼا نه ورته ښکاريده، لا يې په زړه کې داور تيريده چې: «دا په خوب ويده راويښ نه کړم!».

ځکه له ځايه نه خوځيده او ختلى زړه په ځاى کې پرته وه.

رڼا شوه، د ملا آذان يې ترغوږ شو، خو لکه چې زيا ته پاملرنه يې ورته نه شوه ځکه چې دا تر هغه د مخه ويښه وه، تر هغه د مخه يې څو څو ځلي خداى ياد کړى و او مرسته يې ترې غوښتې وه، خپل تقدير يې پرې سپارلى و، هو تقدير: «ستا په رضا زما رضاده ...»

د انګړ په منځ کې د خړو اوبو لښتي ته ودريده، اوبه رواني وې، خپله څيره يې لکه په ماته هنداره کې تر سترګو شوه، ورته ځير شوه، خو دې چې هر څومره په ځير ځير په کې وکتل خپله څيره يې په کې سمه ونه ليده، په فکر کې شوه، اوبه رواني وې او دې ته ورته يوه څيره په کې ښکاريده، په فکر کې بيګانۍ خبره، هو هغه خبره چې بيګانۍ بګيوان ورته کړې وه ورتيره شوه:

- ګلمجمې ببو دې سړي ته هم خنګ کې ځاى ورکه کنه!

- ما ته وايې؟

- هو، کنه نو چا ته وايم!

په ځيرځير، داسې چې تا به ويل په سترګو کې يې وخوړورته وکتل:

- که زما په خنګ کې د هر ... او سړي لپاره ځاى واى، نو اوس به مې پر تاغوندې ... سترګې نه لګيدې او تر دغه ځايه به بدې ورځې نه رارسولم، تاسې لکه چې سړي د خپلو ...

بګيوان نور د غږيدو نه و، نورې يې سترګې هم پورته نه شوې، خو هغې وروستى

خبره هم ورته وکړه: زه ګلمجمعه نه یم زه « افغانه » یم، هو، « افغانه »!

تېوله شپه په همدې فکر کې وه او د « ګلم جمې ببو » په نامه یې زړه خوړين خوړين کېده، سهار هم چې پورته شوه او ځړو اوبو یې شېره لکه څنګه چې وه هسې نه ښوده، نوره هم په اندېښنو کې شوه، نور یې هم زړه په نا امېده بېرې لا هو شو، هغې ډېرې ترخې شپې ورځې لیدلې وې، له هغې څخه په اور او وینو لاهو ښار پاتې و، کور یې پاتې و، د خاوند یې تر اوسه د مړي او ژوندي پته نه لګېده، له څو ماشومانو سره یې ځان تر پېښوره را رسولی و، د یوه ماشوم په کېنه پښه کې یې د بم پارچې تر اوسه پاتې وې. کله به یې چې د هغه څېرې ته په مورنۍ مینې سره وکتل او بېوسۍ به یې کاته وژړول اور به وربلندې بل شو، خو له زړه خوراکه یې پرته بله چاره نه درلوده. هغې تېول امېدونه له لاسه ورکړي وو او د نا امېدو په دنیا کې هغه د نوم او ننګ، هغه د عزت او شرف ،هغه د سپېڅلتیا او صمیمیت پرښته ،هغه د دوو « ناهیدو » مور چې د « سرو » او « سپینو » شیطانانو په وړاندې یې د « قربانۍ » د اختر لاره ونیوه، هغه نن د هرکس او ناکس په خولو کې لویدلې وه او هغې « دنازببو » نن په هغه بوینه بګۍ کې دومره ځای نیولی وچې هغه بګیوان هم د دې دنامه عزت ونه ساته:

- ګلم جمې ببو دې سړي ته هم څنګ کې ...

- ما ته وايې؟

- او، کنه نو چاته وایم ...!

لمر نوی سر را پورته کړی و، چې دې لا ځړو اوبو ته کتل، اوبه روانې وې، او دې لا ځان همداسې لکه په ماته هنداره کې لیده !!!

پېښور ۱۳۷۳ جوزا

www.libtool.com.cn

# د نیلوفر ګل

د هغې په غاړه کې د نیلوفر ګل نن تر پخوا څو څو ځلې ښکلی ښکاریده، نن پنجشنبې وه، هو، پنجشنبې چې د جمعې شپه یې پر قدمو باندې را روانه وه، هغه به هره پنجشنبه هدیرې ته تله، او هره پنجشنبه به یې د ګلانو بیلا بیلې ګیډۍ له ځان سره هدیرې ته وړې او هلته به یې د خپل محبوب په قبر باندې ایښودې. په دغه ورځ یې د ګلانو له ګیډۍ سره یو ځای، یو نیلوفر هم په خپله غاړه کې وتومبه او په پیغلوټو نازونو او قدمونو د هدیرې پر خوا وخوځیده، تر سترګویې بې د هدیرې له بیرغونو، بل څه نه کیدل، یوازې چې کله به یې خپل کاته رالنډ کړل نو بیا به په نیلوفر کې ډوب ډوب وو او خدای شته چې نن یې یو څه خاطر هم جمع و، نازونه او قدمونه یې هم ډاډ من وو، داسې چې ګوا کې د هدیرې په لار کوم مل هم ورسره دی، د خپل آشنا قبر او د هغه رپاندې جنډې یې د سترګو د اوښکو تر څپاو ورهغې خواکې له ورایه ښکاریدی، د چا خبره په بله دنیا کې روانه وه چې یو ځل یې یوه زمزمه تر غوږو شوه، هو، زمزمه:

ښاپیرۍ! ته هره پنجشنبه په همدې نازونو او قدمونو هدیرې ته ځې؟

دې یوې او بلې خواته سترګې واړولې راواړولې، خو څوک یې تر سترګو نه شول، څو قدمونه یې نور هم مخ په وړاندې واخیستل چې بیا یې غږ تر غوږ شو:

– ولې ځواب نه را کوې؟

دا په ځان نه پوهیده خو د دې له خوا هم د نوموړې غږ په ځواب کې یو څه ویل کیدل:

– هو، هره پنجشنبې ما نازونه او یادونه، په ځان پسې را کاږي، ځکه ځم: ته نه راسره ځې؟

– درسره یم خو تر یوه ځایه.

– ولې تر هغه ځايه چې زه روانه يم نه راسره ځې ؟

– شايد زه تر هغه ځايه ونه رسيږم.

– ولې ؟

www.libtool.com.cn

– ځکه چې زه لا تر اوسه د نازونو او قدمونو په دردونو او خوندونو نه پوهيږم.

په همدغه خيال او د فکر په ځوړند تال کې روانه وه، همدغه خبرې يې همداسې زمزمې او انګازې اورېدې. يوې او بلې خواته يې هم څه نه ليدل او نه يې اورېدل، يواځې وروسته وروسته په دې پوه شوه چې دا ټولې خبرې دا د ګريوان له لورې اورې، هو، د ګريوان له لورې، چې بيا يې بله پرده پيل شوه:

– هغه ډېر درباندې ګران و ؟

– هو.

– هغه څه ښيګړې درلودې ؟

– د هغه يو ښيګړه دا وه هغه څه چې د ډېرو خلکو خوښيدل هغه د ده نه خوښيدل، لکه د تظاهر قانون د تظاهر ايمانداري، او د تظاهر عبادت، او نور...

– په څه خاطر ؟

– په دې خاطر چې له نامه پرته بل څه نه وو.

– دا يې ستا په نازو نو او قدمونو څه ؟ نور يې څه کول ؟ هغه څه راته ووايه چې ستا نازونه او قدمونه ترې ځارېږي ؟

– هغه يواځې يو ټکې و چې دې هم نه پرې پوهيده او هغه دا چې د ده د نازونو او قدمونو د اروا يو ګل خوښيده.

– هغه کوم ګل و ؟

– ... ؟

او د زمزمو او انګازو دا پرده پای ته ورسيده. د هديرې په منځ کې سوالګر و ماشومانو د هغې لمنه کلکه ونيوه، څو خيرات ترې واخلي. چا ته يې غوړې ډوډۍ، چا ته يې خوږې پتاسې او چې هغه خلاصې شوې، نو څه پيسې چې ورسره وې هغه يې هم پرې وويشلې، ټولو دې ته کتل او ددې په سترګو کې به يې د هغې محبوب ته د عاوې کولې.

هغه د خپل شهيد د قبر څنګ ته ودريده ، دعايي کوله او که يې د زړه درد ورسره نيماوه. ژړل يې او که د هغه تر خاورو لاندې وچ ځيګر يې داوښکو په باران لمداوه. هو ، له دغو دوو خو يو څه کيدل ځکه چې ژړل يې.

www.libtool.com.cn

ډيرې شيبې د خپل شهيد د خپل محبوب د قبر په څنګ کې کيناسته ، ډيرې دعاوې يې د خپل محبوب په نامه وکړې ، څو څو ځلې يې په نکريزو سره لکه په وينو سره لاسونه د خدای ج دربار ته پورته کړل ، د ګلانو وړه ګيډۍ يې پر قبر کيښوده ، د نيلوفر ګل يې هم له غاړې را ويوست ، د ګيډۍ په منځ کې يې کيښود . او ګيډۍ پرښکلې شوه . داسې چې ورته وبه دې کتل نو فکر به دې کاوه چې ګيډۍ سرې ته خاندي.

خو دا په لنډو قدمو بيرته ترې روانه شوه ، په ژړا يې ځان ښه سترې کړی و ، بيا يې په لاره کې هغه خبرې ذهن ته را غبر ګې شوې ، يوه يوه يې په ذهن کې داسې انځور يدې لکه چې ژوندی يې په مخ کې تيريږي.

- ښا پيرۍ ته هره پنجشنبې په همدې نازونو او قدمونو هديرې ته ځې ؟
- ولې ځواب نه را کوې ؟
- هغه ډير درباندې ګران و ؟
- هغه څه ښيګړې درلودې ؟
- دا يې ستا په نازونو او قدمونو څه ؟ نور يې څه کول ؟
- هغه څه راته ووايه چې ستا نازونه او قدمونه ترې ځاريږي ؟
- هغه کوم ګل و ؟

دا پوښتنې يې ټولې يوه يوه د ذهن په پرده راغبرګې شوې ، مګر دا ځل يې ځواب نه و ، له دې خوا چې روانه وه ، دا هره پوښتنه به لا شوې نه وه چې ځواب به ورکول کيده ، مګر دا ځل څو څو ځلې د دې په ذهن کې راغلې او لاړې خو ځواب نه شوې ، دا هم حيرانه شوه ، نه پوهيده چې ولې ؟

په لاره روانه وه ، دا ځل يواځې يوه ګيله دې خدای ته درلوده ، همدغه يې په ذهن کې تله را تله.

- خدایه ما خو لکه ځینو غوندې تا ته کله سوال نه وکړې چې:

په پیرشهباز مې چار گل کیږده - زیارت یې درونددی گوندی پیغله کونډه شمه.

او دا لنډۍ به یې ځو ځو ځلې تکرار کړه، خپلو سرو منگولو ته به یې وکتل، تر سترگو به یې داوښکو تر هنداری هغې خواته وینی وینی شول، او په نازونو به یې قدمونه اخیستل، خو د پور تنیو پوښتنو، نه ځوابونو ته فکر ورې وه، هو فکر!

www.libtool.com.cn

هغې دا ټوله اونۍ همداسې، په همدغو سرگردانیو کې تیره کړه، داسې شوې وه چې تا به ویل چا جادو پرې کړی دی، هغه صحنه چې دا هډیرې ته په کې روانه وه، هغه یې له یاده نه وته، همدې ته یې تلوسه وه چې کله به د پنجشنبې ورځ او د جمعې شپه را رسیږي، ځو بیا د خپل آشنا د قبر په لور روانه شي او هغه خبرې یو ځل بیا واوري.

- ته هره پنجشنبه په همدې نازونو او قدمونو کې هدیرې ته ځې؟ ...

****

او بله پنجشنبې هم راورسیده. لکه د پخوا په شان یې د تگ تیاري ونیو، لاسونه یې تیار سره وو، سترگې خوږې هسې هم دا یو یونیم کال نه وې توري کړې ځکه چې د زماني خبره وه، برابر ماسپښین و، سیوري او ښتي وو، بیا یې د گلانو یوه ښکلې گیډۍ تیاره په لاس کې نیولې وه، هو د گلانو گیډۍ! دا ځل یې د تیرې پنجشنبې د نیلوفر په ځای یوا ځې یوه گلاب ټوله گیډۍ ښکلې کړې وه، ښکلې گیډۍ وه، سترگې نه ځینې اخیستل کیدې، خو د ښاپیرۍ د حسن په رنځوره ښکلا کې د هغې ښکلا ډوبه ډوبه کیده، هغې ته خدای بل ډول ښایست ورکړی و.

هغه د هدیرې په لور وخوځیده، نازونه او قدمونه یې هم هغه ویرجن نازونه او قدمونه وو، بیا یې په فکر کې د تیرې پنجشنبې زمزمه ورتیره شوه او په غوږونو کې یې انگازې کړې:

- ښاپیرۍ ته هره پنجشنبه په همدې نازونو او قدمونو هدیرې ته ځې؟

تیره پنجشنبه یې دا خبره اوریده داسې چې گوا کې څوک پوښتنه ترې کوي، مگر نن یې په فکر کې را گرځیده، په هغه ورځ دې دغې خبرې ته ځواب هم نه وایه، خو ټول ځوابونه هم دې اوریدل، ځو ځو ځلې یې هم هغه خبرې، هم هغه پوښتنې او هم هغه

ځوابونه په فکر کې لاړل راغلل، تر هغو چې په همدې فکر کې هدیرې ته، هو، هلته چې یوې خاموشه دنیا یې سترګو ته هر کلی وایه، او هلته چې د دې د درد او امید وروستی تم ځای و ورسیده، له یوې او بلې خوا بیا د سوالګرو ماشومانو سترګې پرې ولګیدې، مخکې تردې چې د دې په اننګو د اوښکو تود کاروان را وخوځیږي، ټول یې مخ کې ودریدل او د دې په سترګو کې یې د دې محبوب ته د دعا لاسونه پورته کړل.

www.libtool.com.cn

ډیرې شیبې هلته کیناسته، بیا یې خپل ډک زړګی ښه خالي کړ، د ګلانو ګیډۍ یې د خپل محبوب په قبر کیښوده، د نورو ګلانو په منځ کې ننی ګلاب د تیرې پنجشنبې د نیلوفر په شان ښکلا نه کوله، کله چې دې ګیډۍ په قبر باندې کیښوده، هم دا خبره یې په زړه کې ور تیره شوه.

د کور په لور وخوځیده، ډیر یې تر شاشا را وکتل په ننۍ ګیډۍ یې مینه ماته نه شوه، بیا یې د تیرې جمعې خبرې په فکر کې را وګرځیدې:

– ته هره پنجشنبې په همدې نازونو او قدمونو هدیرې ته ځې؟

– هغه ډیر در باندې ګران و؟

– هغه څه ښیګړې درلودې؟

او یا دا چې بیا به یې د نومړ پوښتنو ځوابونه په فکر کې لاړل او راغلل:

– هو، ځم ته نه راسره ځې؟

– هو،

– د هغه یوه ښیګړه داوه هغه څه چې د ډیرو خلکو خوښیدل او له نامه پرته نه وو هغه ذ ده نه خوښیدل هو، لکه د تظاهر قانون، د تظاهر ایمانداري د تظاهر عبادت او ...

هغې د تیرې پنجشنبې په شان پوښتنې او ځوابونه بیا وانه وریدل، دا خبره اوس د دې لپاره پوښتنه ده او فکر ورته وړی وه.

لوړ مازدیګر و چې بیا یې د کلا د مخې په ګلانو باندې سترګې ولګیدې، زړه یې را پورته شو، د نیلوفر ځوانۍ یې د هوس په هیلو یرغل وکړ او په زړه یې د مینې ډاډمن شپول راتاوه کړ. څو شیبې یې په ژړغونو سترګو او سویو امیدونو کې د نیلوفر ځوانۍ ته په مینه مینه وکتل، د هغه په کتلو کې یې د تیرې پنجشنبې پوښتنې او ځوابونه یو

يو بيا د فکر په اوږ دو او لنډو کې را غبرګ شول ، هرې خواته به يې چې وکتل ، ګل ګل به ورته په خندا و خو نيلوفر ته به يې چې سترګې واړولې بيا يې بلې خواته د کتو اجازه نه ورکوله ، د دی هم په نورو ګلونو مينه نه ماتيده او د ځوانۍ د احساس تر ايرو لاندې سرو سکروټو تسل يې له نيلوفره پرته په نورو نه کيده ، تر هغو چې ماښام شو او د نيلو فر ښکلا د تور تم په څپو کې د دې د ديدن له ولکو تته شو .

کابل ۱۳۷۱

www.libtool.com.cn

www.libtool.com.cn

# بسمل

وایي چې «بادنه وی بوټی نه ښوري» په د وی کې هم تر خیر شر ډیرو، د بربرو په شان پر کابل را ننوتل هر څه چې په لاس ورغلل، هغه یې د «غنیمت» په نامه په خپلو بډو ومنډل، دوی په ښار باندې لکه «انسانان» رانه غلل، بلکی د یوې بدمرغه ناروغی په شان پر ښار باندې، هو پر کابل باندې، پر ښکلی کابل باندې، هغه چې پښتنو پیغلو به په سندرو کې هم پر هغه باندې ښیرا وې نه لورولې هو، ښیراوې: «کابل ته مه وایه چې وران شې -پکې پراته دي ښه ځوانان کاره بریتونه»

خو دوی په کابل کې نه ښه ځوانان پریښودل او نه ښه ځایونه، هر څه یې وران کړل، هر څه دغې ناولې وباتر خپل کومې تیر کړل، ډیره بده ورغ یې د خلکو په برخه کړه، ډیر درانه یې سپک کړل او ډیر سپک د درنو په ځای کیناستل خو درانه نه شول، مورڼ دا ټوله تراژیدی په سترګو لیدله، مورڼ لیدل چې څنګه د کابل ځوانان وژل کیدل، مورڼ لیدل چې دا ښار څنګه وسو، څنګه لوټ شو او څنګه دغې د جنګ تورې وبا په خپلو تورو کرغیړنو منګولو نیولی و او ارام ساه ایستلو ته یې نه پریښود، هو، مورڼ دلته هر څه ولیدل، هو هر څه!

په دغو ورځو کې زموږ یوه خپلوان یوه ورځ زموږ کره یوه جالبه خبره راوړه په چای سره ناست وو چې یو ځل یې تر خوله را ووتل:

- خبر نه یې!

- په څه؟

- بهادر خان قوماندان هم کابل ته راغلی.

- هغه د زنګی شپانه زوی؟

- هو، خو پام چې اوس دې داخبره ده ته تر خولی راونه وځي، هغه اوس په لسګونو،

ټوپکوالا، موټر او ... لري اوس هغه بهادري نه دی، له هغه اوس بهادر خان جوړ شوی، هو بهادر خان! هغه ... صاحب ته ډیر نژدې سړی دی.

خبره همدلته پای ته ورسیده، ما بهادري لیدلې وه، زه به چې په ژمي کلی ته ولاړم، هلته به مې د ښوونځی هلکانو ته کله ناکله د ښوونځی درسونه ویل، په دغو هلکانو کې یو همدغه «بهادری» چې هغه وخت به کلیوالو لیوني باله ماته راته او ما به درس ورته وایه، زما زړه یې را خوږین کړی و، ځکه په درس خبر هم نه و، پلار خوار کي به یې په زور رالیږه، ما هم د زړه وینی ورسره خوړې او درس به مې ورسره وایه.

www.libtool.com.cn

یوه ورځ ما سپینبین له یوې جنازې څخه ستړی ستومانه کورته راورسیدم، زموږ په کوڅه کې د توغندی ګولۍ لګیدلې وی څو تنه په کې ټپیان او مړه شول، په دغه ورځ هم له همدغي غمجنی پیښې را ستون شوی وم، ربښتیا چې ډیر خواشینی وم، زموږ د هغه ګاونډی ځوانی د «خماری» تر پاچاهی ماته اوچته ښکاریده په همغه فکر کې وم چې زموږ د کور مخی ته، ډیر موټرونه وردیدل، لور مې وروکتل وارخطا شوه:

- موټران ... وسله وال ... ته راشه پلاره!

تر کړکی مې وروکتل، ډیر موټرونه ودریدل ډول ډول خیرې څوک را کښته شول او څوک هم هلته په موټر و کې کیناستل له ټولو سره وسلې وې، ما خپلې لور ته وویل چې د چا خپلوان به وی، ورکره راغلل، مالادا خبره نه وه کړې چې زموږ دروازه یې را وټکوله:

- ... په کور کې شته؟

- هو،

- ورته ووایه بهادری وطندار دې راغلي.

زه ور ووتم، جګ ځوان مې مخی ته په خندا شو، روغبړ مې ورسره وکړل، کورته مې را دننه کړل، په مهمانخانه کې کیناستو نژدې څوارلس، پنځلس کاله کیدل چې ما د کلی کور ځوانان یو هم نه وو لیدلی، ټول یې را معرفی کړل، خو ما د پلرونو د نومونو له مخې پیژندل، د تیرو کلونو یادونه مو تازه کړل، د څوارلسو کلو په اوږدو کې چې بهادر خان کومې بهادری کړې وې هغه یې یوه یوه راته بیان کړی، دا یې ټولې راته وکړې چې څومره ښوونکی، ضابطان، مامورین، ملایان، ملکان، د عزت او ابرو خاوندان یې په

څه ډول وژلي دي، دا يې هم راته وويل چې څو څو ځلې ده د غزني په ښار يرغلونه کړي وو او ډير کورونه او زيارتونه د ده د يرغلونو په نتيجه کې وران شوي وو، او په پای کې يې دا هم راته وويل چې: نور دا ناروا کارونه نه کوم... اوس خو واک ...!

www.libtool.com.cn

بهادري په همدې ډول تل زموږ کره تلو را تلو ،څو څو ځلې يې ماته تر غوږ را تيره کړه چې «... صاحب ته به دې ور وپيژنم» خو ما به ځان ترې گوښه کاوه. ډيره موده لا نه وه تيره چې په کابل کې جگړې ونښتې، په هغه ځای کې چې بهادري او د ده ډله پراته وو هلته ډير سخت جنگونه کيدل، خو بهادري هم ورته تينگ شوی و، زما هغه خپلوان چې له ده سره يې ناسته پاسته درلوده، هغه به په ډير وسختو حالاتو کې ده ته ځان ورساوه او د ده پوښتنه به يې کوله ځکه چې زموږ د سيمې بهادر خان اوس په کابل کې بهادری کولی او د دغه ښار اوسيدونکی به يې شړل او وژل. دومره شته يې تر لاسه کړل چې نور يې په پټولو باندې حيران و، او دومره انسانان يې د مرگي په لور وخوځول چې نور نو له دې يو رنگه وژلو «په گولۍ وشتلو، او حلالولو» ستړی شوی و، نو ځکه يې د انسانانو په وژلو کې هم د زمانی له نوښته څخه کار اخيست، په دې مانا چې په مختلفو ډولو به يې خلک وژل، او د جنگ لوی قوماندان صاحب به هم هغه د خلکو خبره لکه خپل زوم داسې نازاوه.

ما په هغو سختو جگړو کې يو ځل بيا هم وليد، ما ورته وويل چې: تا خو توبه کړې وه چې دا ناروا کارونه نور نه کوم خو ده خبره په بله کړه يواځې يې دا تر خوله را ووتل:

- ... جانه ته خو پوه سړی يې،زموږ په خبرو مه غوليږه زموږ خبره تر توبې اوښتې ده. د دې هلکانو «وسله والو» تينگول خو آسانه خبره نه ده، دوی قمار وهي، چرس څکوي، هلکان ...، که دوی ته ووايي چې جگړه مه کوی، فکر کوم چې ما به هم ژوندی پرې نه ږدي. ته بايد موږ زموږ په سترگو وگوری نه په خپلو، موږ چې يو ځای په قرآن لاسونه کيږدو، سمدستی خپل ځای بدلوو او وايو چې هلته مو قرآن سره کړی و دلته خو مو نه دي کړي! خو زما خاطر يې را جمع کړ او پوه شوم چې: «د سړي او که سپينی خوشی تکول دی»

په هغه ځل يې چې خدای پاماني کاوه نو زما خپلوان ته يې مخ ور واړوه چې:

– په دې ورځو کې راشه چې « بسمل رقص » در باندې وګورم.

مور يې ټول حيران کړو چې دا څه وايي، هغه خوراکي ورته وويل:

– هغه يې لا څه شی وي؟

www.libtool.com.cn

– ته خو راشه ډېره جالبه ننداره ده، ان ... صاحب يې هم ننداري ته راځي.

****

نژدې شل شپې کېدې چې مور بيا له بهادري « بهادر خان » څخه خبر نه شوو زما خپلوانو څو څو ځلې زما تر غوږ را تېره کړه چې « بسمل رقص » يې څه دې چې بهادري يې دومره ستاينه کوله، زه هم نه وم خبر او نه په دغه نوې نومونه « اصطلاح » پوهيدم، مور تر ډېره حده داسې فکر کاوه چې شايد دا به د ډېرې ژورې نيشې په حال کې ګډا ته ويل کيږي، او يا دا چې شايد کومه باندنۍ ګډا وی اوس به دلته دود شوی وي، داسې نور اټکلونه مو هم کول.

دا خبرې به مو د بهادر خان د معما په باب په ذهن کې را ګرځولې. يوه شپه د بهادر خان د قرار ګاه په سيمه باندې ډېره درنه جګړه وشوه، زمور خپلوان د هغې شپې په سهار هو، په سهار چې د کابل آسمان د اوردې شپې دجګړې په دوړو او ګردونو باندې خواشينی خواشينی و د بهادر خان پوښتنې ته ځان ورساوه، هغه يې وموند په يوه پښه باندې يې د توغندي کومه پارچه هم لګيدلې وه، يعنی دا چې عادی قهرېې دوې ځلې او درې ځلې اوچت شوی هم و. د هغې ښکلې ودانۍ په چمن کې چې شاوخوا ته يې « اوږې توغندی » دلې دلې پراته وو د پسرلی لمر ته ناست وخوږه پښه يې غزولې وه، له ورايه داسې ښکاريده چې ګواکې لګيدلې ده، يوه نيم ځوانکی هلک دم په دم چلم ورته اور کاوه، د وطندار په ليدلو ډېر خوشاله شو لوړی خو يې په ځوانکی هلک غږ وکړ:

– هلک چلم سور کړه، له هغو ليونيو چرسانو څخه يې را واخله. چای هم دم کړه، سرداري چاي!

– په سترګو.

بيا يې يو بل ببر سری راوغوښت:

– ببره بچيه! په نيولوشويو کسانو کې دې يو ښه مزی،او په غوښو پټ د « بسمل »

لپاره برابر کړه، هو، په غوښو پټ چې تر ډیرو وخوځیږي.

– هغه پرون مو چې ونیول، یو په کې « بسمل » ته ښه جوړ دی، هو، ښه سور دی او ښه مزي!

www.libtool.com.cn

– نور نو ته پوهیږی او کار دې.

د کابل د پسرلي شپې او ورځې وې، له غرمې وروسته به نرې نرې شمال لګیده پخوا دا د کابل د خوښیو او خوشالیو شپې ورځې وې. د میلو شپې وې او د خنداوو د نا پایه زوږ نو هنګامې. د پغمان د ښکلا، د چهلستون د چکرونو، د بربڼ د نازکو او نازولو ډما مې به تل په همدغو شپو کې تودې وې، او په همدغو شپو کې به کابل سر تر پایه ګل و اوګلستان، خو اوس د مرګ ځپو، د مرګ استازو د کابل هم هغه اروا په خپلو منګولو کې نیولې وه او ساړه بادونه پکې چلیدل را چلیدل، د کابل شین آسمان اوس خړرنګی شوی و، اوس به د پسرلیو په بارانی ورځو کې د زانو کتارونو هم خپلې لارې چپولې او پردغه خوا نه راتلې، د هغوی پر ځای به هلته او دلته د کارغانو دوه او درې په هوا کې ښکاریدل چې نه به د چا ورفکر وا ونه د چا ښه ایسیدل.

تیر ماسپیښن و ډوډی، چای وخوړل شول، د لمانځه خو چا نوم هم وانه خیست او نه د چا په یاد و تول همدې ته هوسیدل چې د ننی، مزي او په غو ښو پټ یرغمل د بسمل نڅا ووینی، که څه هم دوی ته دا کار نوی نه و خو دا ننداره اوس د دوی تفریح شوې وه او د دوی د غم غلطیدو یو شیبه، تول همدې ته سترګې په لاره وو چې دا ننداره باید ووینی، څو شیبې وروسته یې هغه لاس تړلی راویوست، سترګې یې په آزاده هوا کې لکه د لیچ نیولی په شان رپیدې او لمر ته د کتلو توان یې نه درلود، هلته مخامخ یې ودراوه، ببر سری یې له خپلو تولو ببرو او خیرنو وینبتو سره سره لکه د دوزخ ماحصل څنګ ته ودرید او د بهادری امر ته یې کتل، بهادري د سر په خوځولو اشاره ورته وکړه او ببر سري په خپل کار پیل:

د ببر سري په کیڼ لاس کې چاړې او په ښی لاس کې ساتول « ساطور » په رڼا ورغ په « سړی » خوب راواستـه دوه درې ځلې یې د چړې په څوکې باندې داسې چوخ کړ چې بدن به یې نه ویني کیده، مګر د هغه « ګنهکار ! » هیجان به یې‌وار په وار زیاتاوه، د دی

لپاره چې د اصلي عمليې « بسمل » لپاره يې ښه تيار کړي وي ، نو څو ځلې يې نور هم د چاړې په څوکه وځوراوه ، او په هر وار به لکه برښنا يې چې نيسي پورته ، پورته غورځيده ، ببر سرى خيرن به تر ده هم پورته پورته غورځيده ، لو به بدمرغى داوه چې د هغه يوه خبره هم چانه اوريده ، لس پنځلس ځلې يې سړى ته ځور ورکړ ، څو چې په پاى کې يې په ډيره بيړه ، هو د سترګو په رپ کې سر او دواړه لاسونه ور پرې کړل ، هغه يې په ملا کې په يوه پړي تړلى و چې هغه يوې او بلې خواته له لويدو څخه وساتي او چې کله يې سر او لاسونه پرې شول ، بيا هم هغه ژوندې و هغه بيا هم د ژوند په لور هڅه کوله ، د هغه اروا له خپل تن څخه په رضا نه وتله ، يوې او بلې خواته اوښته او را اوښته ، پرمخ يې هڅه کوله ، پر شاتله ، يوې او بلې خواته کوږ ووږ کيده ، اروا يې په کالبد پسې خوځيده ، خو دوى په ورته خندل او د هغه « ګنهکار ! » په دغو حرکتونو يې د « بسمل ګډا » نوم ايښى و . هغه تر ډيرو ژوندى و ، تر ډيرو يوى او بلې خواته خوځيده را خوځيده ، لا تر اوسه نندارې پاى ته نه وه رسيدلې چې زموږ خپلوان تر څوکۍ کښته راولويد او په ځان نه پوهيده ، ټول په هغه را غونډ شول ، هغه يې را پورته کړ . بهادرى په غيږ کې ونيو او دعا يې کوله چې وطندار يې په څه نه شي ، په هغه يې يخې او به زر واچولې خو د « بسمل ګډا » نندارې لا پاى ته نه وه رسيدلې تر اوسه چې نژدې شل دقيقې کيدى هغه لا خوځيده ، هو لا خوځيده!

د ماښام آذانونه لا نه وو شوي چې زه په روغتون کې د خپلوان سر ته ودريدم ، تيار وه ، سم نه راته ښکاريده ، څنګ ته يې کيناستم ، سترګې يې پټې وې ، څو ځلې مې غږ پرې وکړ چې سترګې يې لږ پورته شوې په مړاوو مړاوو يې راته وکتل ، هڅه يې وکړه چې ډير څه راته ووايي ، خو نه کيده ، يوازې يې په ډيره سختۍ تر خوله راووتل :

... ما ... ما ما دى ... بسمل ... ګډا وليدله ...

زه تر سهاره ورته کيناستم ، نور څه يې تر خولې را ونه وتل ، لا لمر سم نه وختلى چې موږ د هغه مړى له روغتون څخه راويوست ، خپلوانو به چې د هغه د مرګ پوښتنه کوله موږ نه پوهيدو چې څه ورته ووايو ! ؟

کابل ۱۳۷۲

PROPERTY OF ACKU 5516

## د ليکوال په باب:

ع. رشيد د غلام سخي رشيد زوی د غزني ولايت په رشيدانو کې په ۱۳۳۵ کال کې زيږېدلی دی، لومړنۍ زده کړې يې په رشيدانو، ليسې دوره يې د شلګر (اندړو ) او د غزنی د مرکز د سنايي په ليسو کې پای ته رسولې دي. په ۱۳۵۵ کال کې د کابل پوهنتون د ادبياتو او بشري علومو د پوهنځي په پښتو څانګه کې داخل شو لسانس او ماسټری زده کړې يې په همدغه پوهنځي کې سرته رسولې دی له ۱۳٦۰ کال څخه را په دې خوا په پښتو څانګه کې د استاد په توګه دنده ترسره کوي. علمي رتبه يې پوهندوی ده د پښتو او سينو ادبياتو او ادبي کره کتنې په برخه کې څېړنی او تدريس کوي، يو بنم شعر هم وايي: تر اوسه يې يوازې

دولي د کيسو مجموعه (۱۳٦۷)

د پښتو هنري ادبياتو د کره کتنې لنډه تاريخچه ( ۱۳۷۰)

ليکنی چاپ شوي دی.

www.libtool.com.cn

# FROZEN WINTERS AND FROZEN HANDS

www.libtool.com.cn

## A Collection of Short Stories

By

A. KHALIQ RASHID

1995